❖❖❖

## اسلامي امارت او څو قطبي نړۍ: د زبرځواکونو ترمنځ د ملي ګټو خوندیتوب

دکتور محمد جاوید فدائي[*]

***لنډیز***

*د نړیوال نظم چټک بدلون، د ځواک د توازن بیا تنظیم او د څو قطبي نړۍ را څرګندېدل د نړیوال نظم ځانګړتیاوې دي، چې د دولتونو پر بهرنیو سیاستونو ژورې اغېزې لري. هر دولت اړ دی چې د نویو نړیوالو واقعیتونو په رڼا کې خپل ستراتیژیک دریځ بیا وڅېړي او د خپلو ملي ګټو د خوندیتوب لپاره مناسبه پالیسي غوره کړي. د امریکا متحده ایالات له دوهمې نړیوالې جګړې را پدېخوا په نړیوال نظم کې بارز رول لري او د نړیوالو معادلو اصلي محور بلل کېږي. بلخوا، چین او هند په چټکۍ سره د زبرځواکونو په قطار کې ودرېږي او روسیه بیا هڅه کوي د شوروي اتحاد له ماتې وروسته خپل بایللی ستراتیژیک نفوذ ترلاسه کړي، چې په پایله کې د امریکا متحده ایالاتو هژمونۍ ګواښي. افغانستان چې د مرکزي او سوېلي آسیا په څلور لارې کې پروت دی، د دغو ژورو بدلونونو له اغېزو خوندي نه دی. دا څېړنیزه مقاله د نړیوال نظم ماهیت، د نړیوال ځواک د وېش او د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ په اړه ژوره جیوستراتیژیکه شننه وړاندې کوي. څېړنه هڅه کوي دا پوښتنې ځواب کړي چې اسلامي امارت څرنګه کولی شي د نوي نړیوال نظم د ځواک په توازن کې خپل دریځ تثبیت کړي؟ د نویو او پخوانیو زبرځواکونو په تېره بیا له متحده ایالاتو سره متوازنې اړیکې رامنځته کړي؟ سربېره پردې، دا څېړنیزه مقاله هغه مهم فرصتونه او ننګونې ارزوي چې افغانستان ورسره مخ دی او د هغوی لپاره مناسبې حللارې وړاندې کوي، ترڅو د افغانستان اسلامي امارت وکولی شي خپله بهرنۍ پالیسي د نړیوالو واقعیتونو په رڼا کې په سمه توګه تنظیم او خپلې ملي ګټې په مؤثره او مدبرانه توګه خوندي کړي. دا مقاله د کیفي څېړنیز مېتود پر بنسټ ولاړه ده، چې د نړیوالو اړیکو پر مخکښو نظریو استدلال کوي او علمي منځپانګه یې په ژوره بڼه تحلیلوي. همدارنګه، د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ ژر بدلېدونکي حالت ته کتنه شوې او د موضوعاتي تحلیل له لارې هڅه شوې چې د نړیوالو بدلونونو او د افغانستان د پالیسۍ ترمنځ اړتیا وپېژندل شي. د څېړنې پایله څرګندوي چې افغانستان کولی شي د یو خپلواک دولت په حیث په نوي نړیوال نظم کې د واقعیتونو په درک سره د دقیقې محاسبې له مخې د نړیوال نظم د بدلون معادله وڅېړي او پر وړاندې یې اغېزمن دریځ غوره کړي، ترڅو خپلې ملي ګټې خوندي کړي.*

***کلیدي ټکي:*** *نړیوال نظم، ماهیت، اسلامي امارت، بهرنۍ پالیسي، جیوستراتیژیکې اغېزې، څو قطبیت، نړیوالې اړیکې.*

---

[*] لیکوال، ژباړن او څېړونکی چې په فقه او قانون کې د لېسانس، په نړیوالو حقوقو کې د ماسترۍ او په نړیوالو اړیکو کې د دکتورا تر کچې لوړې زده‌کړې لري.

## سریزه

د نړیوال نظم د تحول او څو قطبي نړۍ د را څرګندېدو په دې مهم پړاو کې نړۍ د زبرځواکونو ترمنځ د سیالۍ، همکاریو او ستراتیژیکو تغیراتو له یو نوي نظم سره مخ ده، چې نه یوازې د نړیوال سیاست د جوړښت پر بنسټونو اغېز لري، بلکې د کوچنیو او منځنیو دولتونو بهرنۍ تګلارې هم په ژوره بڼه اغېزمنوي. افغانستان، چې د جیوپولیټیک له پلوه په یوه حساسه سیمه کې پروت دی، د نړیوال نظم د دغه نوي تحول په بهیر کې له فرصتونو او ګواښونو سره مخ دی (Kumar, 2022). د افغانستان اسلامي امارت لپاره دا وضعیت یو زرین فرصت دی چې له نړیوالو تحولاتو نه د خپلو ملي ګټو د خوندیتوب لپاره ګټه واخلي، خپل سیاسي، اقتصادي او امنیتي دریځ تثبیت کړي، له نویو او پخوانیو زبرځواکونو سره د متوازنو، واقعبینانه او ملي ګټو پر بنسټ ولاړو اړیکو بنسټ کېږدي (Weinbaum, 2021).

د نړیوال نظم د ماهیت پوهه، د ځواک د وېش شننه او د نړیوالو سیاسي تحولاتو د منطق درک د اسلامي امارت لپاره ستراتیژیک اړین عنصرونه دي. د ویستفالیایي نظم له پیله تر نن ورځې، نړیوال نظم له یو لړ اصولو، ارزښتونو او قدرتي ترتیباتو سره تحول موندلی، چې په هر پړاو کې یې د دولتونو د پایښت او پرمختګ لپاره نوې تګلارې ایجاب کړې دي. دا چې افغانستان څرنګه کولی شي د دغه نظم په نوې بڼه کې چې اوس د څو قطبي نړۍ د بنې پر لور روان دی، خپل حیثیت وساتي او خپل اوږدمهاله ملي منافع خوندي کړي، د دغه څېړنیزې مقالې اساسي پوښتنې دي.

د نړیوال نظم معاصر تحولونه، لکه د چین او هند د اقتصادي او پوځي قدرت پراخېدل، د روسیې د ژور ستراتیژیک نفوذ را ژوندي کېدل، د امریکا نسبي شاتګ او د منځني ختیځ، منځنۍ آسیا او سوېلي آسیا د جیوستراتیژیک ارزښت زیاتېدل، دا ټول عوامل د اسلامي امارت لپاره یو داسې پېچلی جیوپولیټیک چاپېریال رامنځته کوي چې هر ډول بهرنی سیاست باید د دقیقې ارزونې، د ځواک د تشخیص او د داخلي ظرفیتونو پر بنسټ

ترتیب شي (Kausch, 2015). د دغه وضعیت یو مهم بعد دا دی چې اسلامي امارت باید د نړیوالو لوبغاړو ترمنځ د تقابل پر ځای د توازن سیاست غوره کړي؛ یعني نه په یو زبرځواک بشپړه تکیه وکړي او نه د بل زبرځواک پر وړاندې دښمني غوره کړي، بلکې د متقابل درناوي، نه مداخلې او متوازنو همکاریو سیاست خپل کړي.

د څېړنې علمي اهمیت په دې کې نغښتی دی چې د افغانستان د بهرنۍ تګلارې او د نړیوال نظم د تحول ترمنځ د متقابل اغېز اړیکې تحلیل شي او دا و ارزوي چې اسلامي امارت څرنګه کولی شي خپله بهرنۍ تګلاره د څو قطبي نړۍ د را منځته کېدو له بهیر سره داسې همغږې کړي، چې له یوې خوا د هېواد ملي حاکمیت، خپلواکي او بنسټیز ارزښتونه وساتل شي، له بلې خوا افغانستان له نړیوالې انزوا څخه را ووځي، اقتصادي ودې ته زمینه برابره شي، له سیمې او زبرځواکونو سره د متقابل درناوي پر بنسټ پراخې او دوامدارې اړیکې ټینګې کړي.

دغه څېړنه د کیفي تحلیل له مخې د لومړۍ او دویمې درجې سرچینو پر بنسټ ولاړه ده، چې د نړیوالو اړیکو مخکښو تیوریانو او علمي تحلیل له لارې د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ د نوي مسیر د درک هڅه کوي. په پیل کې د نړیوال نظم مفهوم، ډولونه، د نړیوال نظم تیوریکي لیدلورى، د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ مسیر، له زبرځواکونو سره د افغانستان اسلامي امارت د تعامل شننه او په پای کې د اسلامي امارت د بهرنۍ پالیسۍ ارزونه شوې ده. دغه ډول علمي ارزونه نه یوازې د افغانستان اسلامي امارت د اوسنۍ تګلارې پر مسیر او محتوا رڼا اچوي، بلکې د راتلونکو احتمالي لارو چارو د رامنځته کولو لپاره هم نظري چوکاټ برابروي. سربېره پر دې، دا څېړنه د نورو دولتونو او نړیوالو لوبغاړو لپاره هم یوه تحلیلي هنداره ده چې له مخې یې کولی شي د اسلامي امارت د بهرنۍ تګلارې منطق، اړتیاوې او لورى درک کړي.

لنډه دا چې د لوېدیځ له محوره ختیځ ته بدلېدونکی نړیوال نظم د قدرتونو د نوي وېش پر لوري روان دی. له همدې امله، اسلامي امارت د دغه تاریخي تحول په داسې

یوه مرحله کې واقع شوی چې د نوي نړیوال نظم ترسیم لا پای ته نه دی رسېدلی. دا وضعیت سره له دې چې نازک دی، خو ستراتیژیک فرصت هم دی. د افغانستان اسلامي امارت کولی شي د ستراتیژیک، ملي او واقع‌بینانه سیاست په غوراوي سره د زبرځواکونو ترمنځ توازن وساتي، د خپلو ملي ګټو خوندیتوب یقیني کړي او د یو خپلواک، متوازن او باوقاره دولت په توګه د څو قطبي نړیوال نظم په نوي چاپېریال کې ځای ومومي. همدا لیدلوری د دغه علمي مقالې د بحث محور جوړوي.

### ۱.د نړیوال نظم ماهیت

د نړیوال نظم مفهوم له پخوا راهیسې د نړیوال سیاست د درک لپاره بنسټیز چوکاټ ګڼل شوی دی. دا نظم د هغو قواعدو، بنسټیزو اصولو مجموعه ده چې د دولتونو او نورو نړیوالو لوبغاړو ترمنځ چلند تنظیموي. نړیوال نظم یوه بدلېدونکې تاریخي پدیده ده چې د قدرت، ایډیالوژیو او جوړښتي بدلونونو له مخې وخت پر وخت بدلیږي (Ikenberry, 2014). دا نظم یو ثابت حالت نه لري، بلکې د تاریخي پېښو، فلسفي بحثونو او جیوپولیټیکي بدلونونو له امله په دوامداره توګه بدلیږي او پرمختګ کوي. نړیوال نظم د سترو نړیوالو شخړو په پایله کې رامنځته شوی، ترڅو د جګړو مخه ونیول شي او نړیواله همکاري پیاوړې شي، چې څرګنده بېلګه یې له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د ملتونو لیګ او د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو جوړېدل دي، چې هدف یې د سولې تامین او د نړیوالو اړیکو تنظیم و. همدارنګه، پخوانیو تاریخي فاجعو د داسې قواعدو رامنځته کېدو ته لاره هواره کړه، لکه د واک د وېش اصول او د ملکیت د حقونو تثبیت، چې د شخړو د کمښت او ثبات د ټینګښت لپاره مهم ګڼل کېږي (Siebert, 2008).

په تیوریکي لحاظ پوهان د نړیوال نظم د جوړښت او پایښت په اړه بېلابېل نظرونه لري. هیډلي بول باور لري چې نړیوال نظم یو ټولنیز جوړښت دی، چې د دولتونو ترمنځ د متقابل تعامل، تفاهم او توافق له لارې رامنځته کېږي. دا په دې معنی چې نظم د فرهنګي

او مدني شرایطو له مخې توپیر کولی شي (Bull, 1977). له بلې خوا، ساموئل هانتنګټن د تمدنونو ترمنځ د ټکر تیوري[1] وړاندې کوي، چې پکې فرهنګي پېژندګلوي د نړیوالو اړیکو او شخړو د اصلي عامل په توګه وړاندې کېږي (Saar, 2024).

د دې ترڅنګ، نړیوال نظم د تاریخي تجربو زېږنده او د دولتونو ترمنځ دوامدارو تفاهمونو او فرهنګي تعاملاتو ته انعکاس ورکوي. د دغه نظم درک کول له موږ سره مرسته کوي چې د نننۍ نړیوال سیاست پېچلې معادلې درک او د خپلو ملي ګټو لپاره مناسب اقدام وکړو. د دې لپاره چې د نړیوال نظم ماهیت وپېژندل شي، پکار ده چې د نړیوال نظم تیوریکي بنسټونه، تاریخي دوړونه، بنسټیزې ځانګړتیاوې او اوسنۍ ننګونې د نړیوالو اړیکو د مخکښو تیوریانو او تیوري پوهانو له نظریاتو څخه په ګټې اخیستنې سره وڅېړل شي، چې د نړیوال نظم د جوړښت، ساتنې او سقوط د څرنګوالي ژور درک وړاندې کوي (Ababakr, 2022).

### ۱،۱. د نړیوال نظم تعریف

نړیوال نظم هغه رسمي او غیر رسمي ترتیباتو ته ویل کېږي چې د حاکمو دولتونو او نورو نړیوالو لوبغاړو ترمنځ سیاسي اړیکې تنظیموي. دا ترتیبات پر ګډو ارزښتونو، حقوقي چوکاټونو او بنسټیزو چلندونو ولاړ دي، ترڅو د ځواک او واک کارونه په نړیواله کچه تنظیم شي (Schmidt & Williams, 2023). جې جان ایکنبري نړیوال نظم د دولتونو ترمنځ د حکومتولۍ ترتیبات ګڼي، چې قواعد، اصول او بنسټونه پکې شامل دي. د نوموړي له نظره، نظم یوازې د قدرت وېش نه دی، بلکې دا د ګډو پروسیجرونو، هیلو او مسؤلیتونو مجموعه ده چې ثبات او وړاندوینه رامنځته کوي (Reus-Smit, 2013). بلخوا،

---

[1] د تمدنونو د ټکر تیوري (Clash of Civilizations Theory) په **۱۹۹۳** ز کال کې ساموئل هانتنګټن مطرح کړه. نوموړي استدلال کوي چې د سړې جګړې نه وروسته به نړیوالې شخړې د ایډیولوژۍ یا اقتصاد له امله نه وي، بلکې د کلتوري او تمدني اختلافاتو له امله به رامنځته کېږي. دا تیوري وړاندیز کوي چې د نړۍ اساسي شخړې به د تمدنونو ترمنځ د ارزښتونو او هویتونو پر سر وي.

نور تیوري‌پوهان د نظم اخلاقي او ارزښتي اړخ ته زیاته پاملرنه کوي. هیډلي بول په خپل کتاب "د انارشۍ ټولنه" کې وايي: که څه هم نړیواله ټولنه مرکزي واک نه لري، خو بیا هم یو ډول نظم رامنځته کولی شي، چې پر ګډو ارزښتونو، قواعدو او بنسټونو ولاړ وي. دا نظریات د نړیوالو اړیکو انګلیسي مکتب بنسټ جوړوي، چې باور لري دولتونه که څه هم د انارشۍ فضا کې ژوند کوي، خو بیا هم د ګډو ارزښتونو له مخې یو ډول ټولنه جوړوي (Mazarr, Miranda, Andrew, & Stuth, 2016).

نړیوال نظم یو منظم او اصولي سیستم ته ویل کېږي، چې د دولتونو، نړیوالو بنسټونو او نادولتي لوبغاړو ترمنځ اړیکې تنظیموي. دا نظم د نړیوال سیاست، اقتصاد، قانون او امنیت برخو کې د متقابلو اړیکو د تنظیم لپاره قواعد، اصول او بنسټونه وړاندې کوي، ترڅو نړیوال ثبات، همکاري او د شخړو حل یقیني شي. د نړیوالو اړیکو تیوري‌پوهان نړیوال نظم له مختلفو زاویو تعریفوي چې د بېلګې په توګه یو څو ذکر کولی شو؛

۱. **مایکل بارنټ:** نړیوال نظم هغه منظمې اړیکې او کړنلارې دي چې د قواعدو، بنسټونو او ګډو ارزښتونو له لارې ټینګېږي او د نړیوالو لوبغاړو ترمنځ چلند او تعامل تنظیموي (Barnett, 2020).

۲ .**جان میرشایمر:** نړیوال نظم د اصولو یوه منظمه ټولګه ده چې د دولتونو او نړیوالو بنسټونو ترمنځ تعاملات اداره کوي او د دوی اړیکې تنظیموي (Mearsheimer, 2019).

۳ .**جي جان آیکنبري:** سیاسي نظم د یو شمېر دولتونو ترمنځ هغه حاکم جوړښت دی، چې اساسي اصول، قواعد او بنسټونه پکې شامل وي، ترڅو د دوی متقابلې اړیکې تنظیم کړي (Ikenberry, 2019).

۴ .**هډلي بول:** نړیوال نظم هغه مهال منځته راځي کله چې دولتونه په خپل منځ کې ګډې ګټې وپېژني او د هغو قواعدو او بنسټونو تابع وي چې د نړیوالې ټولنې اساسي اهداف لکه د سیستم پایښت، سوله او د تړونونو درناوی خوندي کوي (Bull, 1977).

**۵. رابرټ کیوهین:** نړیوال رژیمونه او بنسټونه د نړیوال نظم په جوړښت کې مرسته کوي، ځکه چې د نامعلوم حالت کچه را ټیټوي، همکاري اسانه کوي او تعاملات د ګډو اصولو او کړنلارو له لارې تنظیموي، که څه هم کوم برلاسی ځواک شتون و نه لري (Keohane, 1984).

### ۲،۱.د نړیوال نظم تیوریکي لیدلوري

د نړیوال نظم مفهوم د نړیوالو اړیکو په ډسپلین کې یو بنسټیز ټکی ګڼل کېږي. دا مفهوم څرګندوي چې نړیوال ثبات، حاکمیت (هېژموني) او بدلونونه څرنګه تنظیم او رامنځته کېږي. بېلابېل تیوریکي مکتبونه د نړیوال نظم رامنځته کېدل، ساتل او بدلېدل له مختلفو زاویو تحلیلوي. دا چې د نړیوالو اړیکو تیوریکي بحث خورا پراخه دی او په دې مقاله کې یې بشپړ څېړل ناشونی کار دی، یوازې د نړیوالو اړیکو څلور مهم نظري مکتبونه په لنډیز سره ذکر کېږي چې عبارت دي له: ریالېزم، لیبرالېزم، کنسټرکټیویزم او انګلیسي مکتب چې د نړیوال نظم مخکښ مکتبونه یادېږي.

#### ۱،۲،۱. ریالېزم

ریالېزم په نړیوالو اړیکو کې د بنسټیزو تیوریکو مکتبونو تر ټولو مخکښ او پخوانی مکتب دی. ریالېزم د نړیوال سیستم پر بې نظمۍ (ګډوډۍ) باندې تمرکز کوي، دولت د عقلاني او ځواک لټوونکي لوبغاړي په توګه وړاندې کوي چې د مرکزي واک د نشتوالي په صورت کې په یو چاپېریال کې خپل پایښت ته لومړیتوب ورکوي، ترڅو نړیوال سیستم کې تر نورو لوبغاړو پیاوړی وي (Underwood & Paul, 2020). ریالېزم د کلاسیکو سیاسي افکارو څخه سرچینه اخیستونکی او د معاصرو تیوریستانو لخوا مهم ګڼل شوی دی چې نړیوال سیاستونه، شخړې او د دولتونو چلند له یو پیاوړي لید څخه تحلیلوي. ریالېزم په فلسفي لحاظ پخوانیو سیاسي افکارو ته لار مومي، په ځانګړې توګه د توکدیدیس، نیکولو مکیاولي او توماس هابز فکري فلسفه څېړي (Lomia, 2020).

توکدیدیس په خپل تحلیل کې د "پلوپونېشین جګړې" په اړه د آتن او سپارټا ترمنځ د ځواک د مبارزې یادونه کوي او ټینګار کوي چې د ویرې، عزت او ګټو ډاینامیکونه ډېری وخت د اخلاقو پرځای د دولت د چارو په لړ کې غوره کیږي. مکیاولي په خپل اثر "شاهزادګی" کې د پراګماتیک او کله ناکله بی‌رحمه رهبریت څخه ملاتړ کوي او وایي چې د دولت ساتنه د ځواک کارونې حق ورکوي. د هابز د "طبیعي حالت" لید چې په لیویاتان کې یې بیان کړی و د ګډوډۍ او ناامنۍ له مخې ځانګړتیاوې لري، چې وروسته په نړیوال سیستم کې د واقعیتونو د تشریح لپاره د بې نظمۍ او ځان د مرستې پراخه تفصیل وړاندې کړ (Joseph, 2014).

دغه لومړني فکرونه په ۲۰ مې پېړۍ کې په یو منظم تیوریک چوکاټ بدل شول، په ځانګړې توګه د هانس مورګنتاو او کینیت والتز نظریو د ریالېزم کاري ساحه نوره هم پراخه کړه. د مورګنتاو د کلاسیک ریالېزم له مخې د انسان طبیعت او د ځواک لپاره طبیعي هڅې سره تړلي دي (Schmidt, 2004). والتز نیوریالېزم (نوی ریالېزم) د نړیوال سیستم بې نظمي جوړښت ته په داسې ډول اشاره کوي چې دا د دولت د چلند د غوراوي لپاره اصلي عامل ګڼل کیږي. دا نظري تحول له بشري انګېزو څخه د نړیوال نظام جوړښت ته د تمرکز لېږد څرګندوي، چې له امله یې د دولتونو چلند او د نړیوال سیاست ماهیت ته نوی چوکاټ رامنځته شو (Lomia, 2020).

هانس مورګنتاو د کلاسیک ریالېزم بنسټ ایښودونکی دی، چې باور لري نړیوال سیاست د هغو نه بدلېدونکو قوانینو تابع دی چې له بشري طبیعت څخه سرچینه اخلي. د مورګنتاو له نظره، د قدرت غوښتنه د انسان ذاتي ځانګړنه ده او دا فطري تمایل د دولتونو په کړنو کې ځان ښکاره کوي. د نوموړي له نظره دولتونه معقول لوبغاړي دي، چې د خپلو ګټو او پایښت د تضمین لپاره عملي اقدام کوي (Schmidt, 2004). مورګنتاو استدلال کوي چې اخلاق په نړیوال سیاست کې کمه ونډه لري، ځکه نړیوال نظام بې‌مرکزه دی او دا دولتونه اړ کوي چې له اخلاقي ارزښتونو پرته یوازې خپل پایښت او ځواک ته

لومړیتوب ورکړي (Lomia, 2020). دغه لیدلوري له بشري طبعیت څخه الهام اخیستی، چې نړیوال سیاست ته بشري ابعاد ورکوي.

کینیت والتز بیا یو نوی لیدلوری وړاندې کوي، چې د نیوریالېزم یا جوړښتي واقعیت‌پالنې په نامه یادېږي. والتز د دولتونو د سلوک د تحلیل تمرکز له افرادو او انساني انګېزو څخه د نړیوال نظام جوړښت ته اړوي. د نوموړي له نظره نړیوال نظام انارشیک (ګډوډ) دی، یعنې مرکزي واکمن نه لري او دغه ګډوډۍ دولتونه اړ کړي چې د ځان ساتنې له لارې د نسبي ګټو د لاسته راوړنې هڅې وکړي، ترڅو خپل امنیت خوندي کړي (Sylvester, 2014). دا لیدلوری د انساني انګېزو پر ځای د بوځي فشارونو پر بنسټ ولاړ دی او د انسانانو رول محدودوي. که څه هم دا لیدلوری یو ساده او عمومي تحلیلي چوکاټ وړاندې کوي، خو نیوکې پرې دا دي چې انساني سلوک، سیاسي محاسبات او فرهنګي ابعاد له پامه غورځوي (Pietrzak, 2024).

له کلاسیک ریالېزم څخه تر نیوریالېزم پورې د نظم لېږد یوازې د تمرکز بدلون نه دی، بلکې د نړیوالو اړیکو په نظریاتي بهیر کې یو ژور بدلون څرګندوي. دا تحول د جوړښت او انګېزې ترمنځ د اړیکو مهم بحث مطرح کوي، چې آیا دولتونه د انسانانو د ارادې پر بنسټ عمل کوي، که د نړیوال نظام د فشارونو تابع دي. مورګنتاو د دولتونو د سلوک د تعبیر لپاره د بشري انګېزو اهمیت ته اشاره کوي (Morgenthau, 1948)، خو والتز بیا د نړیوال نظام عمومي جوړښت ته لومړیتوب ورکوي (Waltz, 1979). لنډه دا چې له مورګنتاو څخه تر والتز پورې د ریالېزم دا پرمختګ د نړیوالو اړیکو د واقعیت یو بنسټیز بدلون دی، چې لا هم د دولتونو چلند، د نړیوال سیاست ماهیت او د تحلیل علمي میتودونو باندې ژورې اغېزې لري.

د دې ترڅنګ، یرغلیز یا بریدګر ریالېزم او دفاعیز ریالېزم د نیوریالېزم دوه اساسي څانګې دي. دا نظریه د نړیوالو اړیکو په بنه کې د نړیوال نظام پر بې‌مرکزۍ ولاړه ده او

باور لري چې د نړیوالې ګډوډۍ جوړښت د دولتونو چلند ټاکي(Taliaferro, 2000) . دواړه نظریې دا خبره مني چې نړیوال نظام له مرکزي واک څخه تش دی او له همدې امله دولتونه اړ دي چې د خپل پایښت لپاره پر ځان بسیا وي، خو په دې کې د ځواک د تعقیب، د جګړې د امکاناتو او د همکارۍ په اړه لیدلوري له یو بل سره توپیر لري .(Lobell, 2017).

یرغلیز ریالېزم د جان میرشایمر له خوا تشریح شوی، نوموړی ادعا کوي چې دولتونه د قدرت زیاتونې لپاره فطري هڅه کوي او دا هڅه د نړیوال سیستم له جوړښته سرچینه اخلي. د میرشایمر له نظره دولتونه د نورو د نیتونو په اړه تل بې باوره وي، نو ځکه هڅه کوي چې نسبي قدرت زیات کړي، ترڅو د احتمالي تهدیدونو مخه ونیسي. میرشایمر باور لري چې لوی ځواکونه هېڅکله له اوسني وضعیت څخه راضي نه وي، بلکې هڅه کوي سیمه‌یزه یا نړیواله هېژموني ترلاسه کړي (Lobell, 2017). د یرغلیز ریالېزم لپاره جګړه، یرغل او د ځواک کارول مشروع وسایل دي، ترڅو نسبي قدرت زیات کړي او په نړیوال سیستم کې خپل دریځ پیاوړی کړي (Mearsheimer, 2014).

د یرغلیز ریالېزم اصلي فرضیې د نړیوال سیستم بې‌مرکزي او د نورو دولتونو په نیتونو باندې شک کول، د ځواک اعظمي حد ته رسول، د سیمه‌یزې یا نړیوالې هېژمونۍ لپاره هڅې او جګړه د پایښت لپاره مشروع وسایل ګڼل دي. د میرشایمر په نظر دا د لویو قدرتونو "تراژیدي" ده، که څه هم دا کړنې ډېرې وختونه ناامنۍ او بې‌ثباتۍ ته لاره هواروي، خو نړیوال سیستم دا ځواکونه د سلطې او مقابلې خوا ته سوق کوي .(Mearsheimer, 2014).

دفاعیز ریالېزم تر ډېره د کینیت والټز په نظریه کې نغښتی دی، چې د دولتونو د چلند لپاره یو معتدل لید لري. که څه هم والټز دا اصطلاح په ښکاره ډول نه ده کارولې، خو د هغه مشهور کتاب (د نړیوال سیاست تیوري ۱۹۷۹) کې داسې بنسټیز نظریات مطرح شوي چې د دفاعیز ریالېزم بنسټونه یې کېښودل. والټز استدلال کوي چې دولتونه په یو انارشیک

یا بې‌مرکزه نړیوال سیستم کې د امنیت په لټه کې دي او د ځواک اضافي پراختیا د نورو دولتونو د اندېښمن کېدو لامل ګرځي، چې د دولتونو امنیت ته لا زیاته خطرناکه ده. دفاعیز ریالېزم پر دې ټینګار کوي چې دولتونه د اعظمي قدرت پر ځای امنیت ته لومړیتوب ورکوي (Taliaferro, 2000).

د یادونې وړ ده چې د دفاعیز ریالېزم مفهوم د چارلس ګلیزر او رابرټ جورویس لخوا نور هم روښانه او پراخه شو او دا یې د دفاعیز ریالېزم په نامه تشریح کړ. دوی د امنیتي معما[1] پر مفهوم ټینګار کوي، چې د یو دولت امنیتي تدابیر د نورو لخوا ګواښ ګڼل کېږي او د وسلوال رقابت لامل کېږي (Glaser, 2010). دفاعیز ریالېزم دا تحلیل وړاندې کوي چې ډېری وخت د اعتدال او ځان‌ساتنې سیاستونه د تجاوز پر ځای ډېر منطقي وي. د ځواک د توازن اصل د سیستم جوړښتي محدودیتونه او د بې‌احتیاطۍ ضد سیستمي فشارونه د دولتونو پر چلند محدودیتونه وضع کوي (Glaser, 1997). والټز دا نظر هم وړاندې کوي چې پراخېدونکی یرغلیز سیاست د متقابلو ائتلافونو د جوړښت لامل کېږي، چې بالآخره د یرغلګر دولت امنیت کمزوری کوي (Pashakhanlou, 2018).

لنډه دا چې یرغلیز ریالېزم د دولت د پایښت لپاره قدرت اړین ګڼي، خو دفاعیز ریالېزم خبرداری ورکوي چې د ځواک ډېره پراختیا د امنیت د له منځه وړلو لامل ګرځي. دا دواړه لیدلوري لا هم د نړیوال سیاست په تحلیل کې مهم ځای لري او د دولتونو د ستراتیژیکو تصمیمونو د تحلیل لپاره ارزښتناک چوکاټ برابروي. په هر صورت، ریالېزم د لاندې بنسټیزو فرضیو پر اساس ولاړ دی چې د نړیوال نظم ماهیت څرګندوي. دغه فرضیې د بې

[1] امنیتي معما (Security Dilemma) هغه حالت ته ویل کېږي چې یو دولت د خپل امنیت د خوندیتوب لپاره دفاعي ګامونه اخلي، خو نور دولتونه دغه اقدامات ګواښوونکي ګڼي او ورته اقدامات کوي. که څه هم ټول لوري یوازې د خپل امنیت د تضمین هڅه کوي، خو بې باوري، کړکېچ او ناامني زیاتېږي. دا وضعیت د نړیوال نظم د انارشۍ، د دولتونو په نیت باندې شک کول او د باور د نشتوالي زېږنده دی، چې د ریالېزم نظریې بنسټیز مفهوم ګڼل کېږي.

نظمۍ، دولت محوره او د ځواک ترلاسه کولو په لټه کې د نړۍ د سیستم ځانګړتیاوې څرګندوي. د دغو بنسټیزو فرضیو په اساس ریالېزم د نړیوال سیاست د چلند او شخړو د تشریح لپاره یو مناسب چوکاټ وړاندې کوي.

۱. **انارشي**: نړیوال سیستم د ټولنیز واک له نشتوالي څخه پیژندل کېږي. د کورني سیاست په پرتله چې حکومتونه قانون او نظم ساتي، نړیوال سیستم بې نظمي لري او دولتونه اړ کوي چې د ځان‌ساتنې میکانېزمونه وکاروي (Volgy, Corbetta, Grant, Ryan, & Baird, 2011).

۲. **د دولت مرکزي‌توب** :دولتونه په نړیوال سیاست کې اصلي او عقلاني لوبغاړي دي. سره له دې چې نادولتي لوبغاړي ممکن په نړیوالو چارو اغېزه ولري، خو دوی هغه خپلواکي، ځواک او ظرفیتونه نه لري چې دولتونه یې لري (Kervalishvili, 2022).

۳. **عقلانیت او ځانګړې ګټه** :دولتونه عقلاني لوبغاړي دي چې د خپلو ملي ګټو زیاتونې لپاره ستراتیژیکې پرېکړې کوي، چې معمولاً پر پایښت او امنیت تمرکز لري (Howe, 2006).

٤. **ځواک او امنیت** :د ځواک تعقیب د نړیوال سیاست یوه مرکزي ځانګړنه ده. دولتونه ځواک نه یوازې د تسلط لپاره لټوي، بلکې په یو نامعلوم او سیالي چاپیریال کې د خپل امنیت لپاره هڅه کوي (Kulakova, 2023).

۵. **د ځواک توازن** :په نړیوال سیستم کې ثبات د ځواک د توازن له لارې ترلاسه کېږي، چې هېڅ یو دولت ته د غلبې توان نه ورکول کېږي. د دولتونو ائتلافونه، سیالي او پوځي وړتیاوې زیاتول د دغه توازن ساتنه کې محوري رول لوبوي (Kaplan, 1957).

### ۲,۲,۱. لیبرالېزم

لیبرالېزم د ریالېزم مخالف لید وړاندې کوي او دا باور لري چې نظم یوازې د ځواک پر بنسټ نه، بلکې د نړیوالو موسسو، همکاریو او ګډو اصولو له لارې هم رامنځته کېدلی

شي. د دويمې نړيوالې جګړې وروسته جوړ شوی ليبرال نړيوال نظم ديموکراسي، آزاد بازار او څو اړخيزتوب ته ارزښت ورکوي. ليبرالېزم د سياسي فلسفې او نړيوالو اړيکو بنسټيزه نظريه ده، چې د اروپايي روڼ اندۍ له دورې را پدېخوا يې د پام وړ بدلون موندلی دی (Lynch, 2009). دا نظريه د فردي آزادۍ، محدود دولت او اقتصادي آزادۍ پر بنسټ ولاړه ده او د ماډرن ډيموکراتيکو ادارو او پانګيزو اقتصادونو پر لور د بشر د سياسي او اقتصادي پرمختګ لوری يې ټاکلی دی. دغه بنسټيز اصول چې د نويو بڼو په توګه راڅرګند شوي، نيوليبرالېزم يې يوه مهمه او معاصره نسخه ګڼل کېږي. که څه هم ليبرالېزم او نيوليبرالېزم، د آزادۍ ارزښت ته ژمن دي، خو د دوی تعبيرونه او پاليسۍ ډېری وخت سره متفاوت وي (Nijs, 2016).

کلاسيک ليبرالېزم د اوولسمې او اتلسمې پېړۍ په ترڅ کې وده وکړه، چې جان لاک او ادم سمېت په شان د نامتو فيلسوفانو د آثارو پر بنسټ ولاړ و. جان لاک د خپل مشهور اثر (د حکومت دوه رسالې ۱۶۸۹) په ترڅ کې د طبيعی حقونو لکه ژوند، فردي آزادۍ او ملکيت باندې ټينګار وکړ، چې دا د ډيموکراتيکو حکومتونو او محدود دولت لپاره فلسفي بنسټ وګرځېد (Brennan & Tomasi, 2012). همدارنګه، ادم سمېت د خپل کتاب (د ملتونو شتمني ۱۷۷۶) له لارې د اقتصادي ليبرالېزم اصول بيان کړل او د "نه ليدل کېدونکي لاس[۱]" مفکوره يې وړاندې کړه، چې د بازار د آزاد تنظيم ملاتړې وه (Laski, 2018).

سياسي ليبرالېزم د جان سټوارټ مېل لخوا ډېر وپالل شو، چې نوموړي په خپل اثر (د آزادۍ په اړه ۱۸۵۹) کې د فردي آزادۍ، د بيان د آزادۍ او د استازيتوب پر بنسټ د

---

[۱] د نه ليدل کېدونکي لاس (Invisible Hand) اصطلاح چې په ۱۸مې پېړۍ کې د سکاټلنډي اقتصادپوه ادم سمېت له خوا وړاندې شوې، د اقتصاد يو بنسټيز اصل څرګندوي. دا مفهوم بيانوي چې افراد، که څه هم يوازې د خپلو شخصي ګټو په لټه کې وي، خو د بازار د ازاد رقابت، عرضې او تقاضا د اصولو له لارې، په ناخبره ډول د ټولنې د عمومي هوساينې سبب ګرځي، لکه څنګه چې يو نه ليدل کېدونکی لاس يا ځواک د اقتصادي فعاليتونو سمون او تعادل تنظيموي.

ډیموکراسۍ د اړتیا اخلاقي او فلسفي اړخونه روښانه کړل. مېل د مدني آزادیو، فکري تنوع او د نظریاتو له بازار دفاع وکړه، چې تر نن ورځې پورې د لیبرال ډیموکراسیو پر افکارو اغېزه لري (Mill, 1867). بلخوا، د نولسمې پېړۍ په پای او شلمه پېړۍ کې لیبرال اقتصادي اصول د ټولنیزو نابرابریو او مالي بې ثباتۍ له سختو ننګونو سره مخ شول. د ۱۹۲۹ اقتصادي بحران د "کېنزي اقتصاد[۱]" زېږون ته لاره هواره کړه، چې د دولت پراخ رول ته ارزښت ورکړل شو، ترڅو اقتصادي رکودونه مهار کړي (Hawkesworth, 2009).کله چې دولتي مداخله ناکامه ښکاره شوه، نیولیبرالېزم د شلمې پېړۍ په نیمایي کې د اقتصادي ازادۍ او د کلاسیک لیبرال اصولو ته د بیا ژمنتیا په توګه راڅرګند شو، چې پر بازار د تنظیم، خصوصي کول او نړیوالیتوب تمرکز لري (Phelan & Dawes, 2018).

نیولیبرالېزم چې فریډرېش هایک او میلټن فریډمن یې مخکښ مفکرین وو، یو ځل بیا د آزاد بازار ارزښتونه را ژوندي کړل. هایک په خپل اثر (د غلامۍ لار ۱۹۴۴) کې خبرداری ورکړی چې پراخ دولتي کنټرول د آزادۍ لپاره ګواښ دی. فریډمن بیا په خپل کتاب (پانګوالیتوب او آزادي ۱۹٦۲) کې استدلال کړی چې سیاسي او اقتصادي آزادۍ سره نه بېلېدونکې دي. د دوی نظرونو د ریګن او تیچر په مشرۍ د ۱۹۸۰ لسیزې پرمهال په متحده ایالاتو او انګلستان کې د پالیسۍ په اصلاحاتو کې د پام وړ اغېزه وکړه (Filip, 2020). نیولیبرالېزم د نړیوالو مالي ادارو لکه د نړیوال پولي صندوق او نړیوال بانک له لارې نړیوال ارزښت غوره کړ، چې د پرمختیایي هېوادونو لپاره یې د جوړښتي اصلاحاتو پروګرامونه وړاندې کړل. د واشنګټن توافق (۱۹۸۹) د نیولیبرال پالیسیو بنسټیز اصول بیان کړل لکه د سوداګرۍ آزادول، مالي انضباط او د دولت د لګښتونو راکمول. دا پالیسۍ د

[۱] کېنزي اقتصاد (Keynesian Economics) یو اقتصادي مکتب دی چې د ۱۹۳۰مې لسیزې د ستر اقتصادي رکود پر مهال د برتانوي اقتصادپوه جان مېنرډ کېنز لهخوا رامنځته شو. دغه مکتب د اقتصادي ثبات او ودې لپاره د دولت لاسوهنه اړینه ګڼي، او باور لري چې ټولیزه تقاضا د تولید، روزګار او اقتصادي فعالیت اصلي محرک دی.

دې لپاره جوړې شوې وې چې پرمختيايي هېوادونه د نړيوال بازار برخه وګرځي (Engelmann, 2014).

د يادونې وړ ده چې نيوليبرالېزم د وخت په تېرېدو سره له پراخو نيوکو سره مخ شو. ډېرى پوهان باور لري چې دغه مفکورې ټولنيزې نابرابرۍ ډېرې کړې، د کارګرو حقونه يې کمزوري کړي او د عامه خير پر ځای يې د شرکتونو ګټه لومړيتوب ګرځولې ده (Rutar, 2023). ډېوېډ هاروي په خپل کتاب (د نيوليبرالېزم يوه لنډه تاريخچه ۲۰۰۵) کې استدلال کوي چې نيوليبرالي اصلاحات ډېرى وخت د واکمنو طبقو ګټې خوندي کوي او کمزوري قشرونه څنګ ته کوي. د دې ترڅنګ، د ۲۰۰۸ کال مالي بحران په غير منظمو بازارونو کې باور نور هم له منځه يوړ، چې د اقتصادي مؤثريت او ټولنيز عدالت د بيا توازن لپاره يې نوې غوښتنې راپورته کړې (Lane, 2024).

لېبرالېزم او نيولېبرالېزم هغه نظريې دي چې د نړيوال نظم، سولې او همکارۍ لپاره بنسټيز اصول وړاندې کوي. دا نظريې د نړيوالو موسسو لکه ملګرو ملتونو، نړيوال تجارتي سازمان او د پيسو نړيوال صندوق له لارې د دولتونو ترمنځ همکاري تقويه کوي (Jervis, 1978). د ډيموکراتيکو دولتونو ترمنځ د جګړې کمښت او دايمي سوله، اقتصادي نښلون او د متقابلو ګټو پراخوالی د شخړو مخنيوی کوي. د دې ترڅنګ، رابرټ کيوهين "پېچلې تړلتيا نظريه[۱]" وړاندې کوي، چې دولتونه يې د مختلفو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو اړيکو له لارې سره تړلي

---

[۱] د رابرت کيوهين د پېچلې تړلتيا نظريه (Complex Interdependence) چې په ۱۹۷۰مو کلونو کې مطرح شوې، د نړيوالو اړيکو په نظرياتو کې د دولتونو او نادولتي لوبغاړو ترمنځ د څو اړخيزو، غير سلسله‌يي او متقابل تړاوونه تشريح کوي. دغه نظريه د نړيوال نظام په چوکاټ کې د ځواک سنتي او ريښتينې انګېرنې محدوديتونه له منځه وړي او ټينګار کوي چې په معاصر نړيوال سياست کې اقتصادي، ټولنيز او چاپېريالي اړيکي د امنيتي او پوځي مسايلو سره يو ځای، د سياست جوړونې په بهير کې مرکزي رول لري. کيوهين په دې نظريه کې څرګندوي چې د پېچلې تړلتيا له امله د هېوادونو ترمنځ همکاري او تعامل د بېلابېلو برخو په منځ کې د متقابل تړاو پر بنسټ رامنځته کېږي، چې دا حالت د نړيوال نظم د ثبات او ګډو ګټو د ساتنې لپاره حياتي ګڼل کېږي.

ګڼلي دي. دغه اصول له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د امریکا تر مشرتابه لاندې نړیوال نظم کې عملي بڼه غوره کړه، چې موخه یې د نړیوال ثبات او سولې تأمین و (Lee, 2018).

سربېره پردې، جوزف نای له نیولیبرالېزم سره ژور تړاو لري، په ځانګړي ډول د نړیوالو اړیکو د نیولیبرال موسساتي نظریې نیولیبرالېزم نور هم غني کړی دی. نوموړی هم په دې نظر دی چې دولتونه یوازې د ځواک له لارې نه، بلکې د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو همکاریو له لارې هم یو له بله سره تړلي دي، چې د نوموړي د نرم ځواک نظریه له دغه لیدلوري سره همغږې ده، چې نړیوال نفوذ یوازې په ځواک نه، بلکې د کلتور، ارزښتونو او مشروعیت له لارې هم ترلاسه کېږي (Keohane & Nye, 2011).

په لنډیز سره ویلی شو چې لیبرالېزم او نیولیبرالېزم تر نن ورځې پورې د نړیوال سیاسي او اقتصادي نظام بنسټیزې نظریې دي. له یوې خوا، لیبرالېزم د فردي حقونو او د ډیموکراتیک حاکمیت مدافع پاتې شوی. له بلې خوا، نیولیبرالېزم د اقتصادي ازادۍ او بازار مؤثریت ته لومړیتوب ورکوي. د نننۍ نړۍ ستره ننګونه دا ده چې څرنګه د بېلابېلو فکري مکتبونو مثبت اړخونه سره مدغم شي، ترڅو د نابرابرۍ کچه راکمه، ټولنیز عدالت تأمین او دوامدار پرمختګ په داسې نړۍ کې تضمین شي، چې ورځ تر بلې دولتونه یو له بل سره نژدې او تړل کېږي.

### ۳,۲,۱. کنسټرکټیوزم (جوړښتیزم)

کنسټرکټیوزم په نړیوالو اړیکو کې یوه بنسټیزه تیوري ده چې د ریالېزم او لېبرالېزم مادیاتي او عقل‌پال بنسټونه ننګوي. دا تیوري په نړیوال سیاست کې د مادیاتو پرځای پر مفکورو، هویتونو او ټولنیزو ارزښتونو باندې ټینګار کوي. کنسټرکټیوزم استدلال کوي چې د دولتونو چلند یوازې د مادیاتو له مخې نه، بلکې د متقابل فهم، تعامل او ګډو باورونو له لارې رامنځته کېږي (Sun, 2023). دغه تیوري د سړې جګړې پای کې مطرح شوه، ځکه چې دودیزې تیورۍ د هغه مهال ژورو بدلونونو په درک کې پاتې راغلې او کنسټرکټیوزم تر یو بریده دغه تشه ډکه کړې ده. د کنسټرکټیوزم فکري ریښې د ټولنپوهنې

له کلاسیکو مفکرینو، لکه امیل دورکهایم او ماکس ویبر سره تړاو لري. دغه تیورۍ د نړیوالو اړیکو په څېړنو کې په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو کې رسمي بڼه غوره کړه، چې نیکولاس اونف د "جوړښتپالنې" اصطلاح په خپل کتاب (زموږ جوړونکې نړۍ ۱۹۸۹)کې رامنځته کړه. کنسټرکټیوزم تیوري د وخت په تېرېدو سره د الیګزانډر وینډټ، پیټر کټزنستاین، جان راګي او مارتا فینیمور لخوا نوره هم وغځول شوه او په نړیوال سیاست کې یې د ټولنیزو جوړښتونو اهمیت روښانه کړ (Lawler, 2024).

کنسټرکټیوزم پر یو شمېر اساسي بنسټونو ولاړه ده؛ لومړی، دغه تیوري د حقیقت ټولنیز جوړښت منلی دی او وایي چې مادي جوړښتونه یوازې د ټولنیزو فعالیتونو د تشریحي کړنو له لارې معنی ترلاسه کوي. دویم، دا استدلال کوي چې د دولتونو ګټو او هویتونو ته لومړیتوب نه ورکول کېږي؛ بلکې د دوامداره ټولنیزو تعاملاتو له لارې رامنځته کېږي او بیا جوړېږي. لکه څنګه چې وینډټ ویلي، "انارشي هماغه ده چې دولتونه یې جوړوي"، یعنې انارشي یو ثابت او طبیعي حالت نه دی، بلکې د دولتونو د باورونو او تعامل پایله ده. دریېم، دا تیوري نړیوال نورمونه او بنسټونه، لکه د حاکمیت اصل، ډیپلوماسي او بشري حقونه د دولتونو په چلند کې مهم ګڼي. څلورم، جوړښتپالنه د مرکزي میکانیزمونو په توګه د فرهنګي ارزښتونو د نقش یادونه کوي چې سیاسي واقعیتونه رامنځته کوي (Adler, 2013).

کنسټرکټیوزم یا جوړښتپالنه د ریالېزم له مادیتپالنې سره مخالفت لري، ځکه ریالیستان د قدرت او پایښت پر اړتیاوو ټینګار کوي، حال دا چې جوړښتپالان باور لري چې د دولتونو چلند د هغوی د ځانپوهنې او متقابل تعامل پایله ده. د دې ترڅنګ، له لیبرالېزم سره هم اختلاف لري، ځکه چې لیبرالان بنسټونه د همکاریو لپاره مهم ګڼي، خو جوړښتپالان وایي چې پخپله بنسټونه هم د ټولنیزو باورونو پر بنسټ رامنځته شوي دي (Nugroho, 2008). همدارنګه، جوړښتپالنه د نړیوال سیاست ګڼو پېښو ته ژور تحلیل وړاندې کوي، لکه د بشر حقونو د ارزښتونو پراخوالی، د نړیوالو قوانینو پرمختګ او د

نادولتي لوبغاړو رول. دا تیوري د مفکورو، هویتونو او ارزښتونو له لارې د نړیوال سیاست یوه بدیله څېړنیزه لاره پرانیزي او د نړیوالو اړیکو د تحولاتو لپاره یو ژور تحلیلي چوکاټ وړاندې کوي (Lawler, 2024).

### ۴،۲،۱. انګلیسي مکتب

انګلیسي مکتب د نړیوالو اړیکو په تیوریک ډګر کې یو ځانګړی او منځلاری نظریاتي چوکاټ وړاندې کوي چې هڅه کوي د ریالېزم مادیاتي تمرکز او د لیبرالېزم ارادي خوشبیني د نړیوالې ټولنې د مفهوم له لارې سره یو ځای کړي (Lawler, 2024). که څه هم نړیوال سیستم د انارشۍ له اصولو سره سم تعریفېږي، خو دولتونه د یوې ناپېیلې، خو تنظیم شوې ټولنې په توګه یو له بل سره متقابل تعامل کوي. دا ټولنه د ګډو ارزښتونو، اصولو، ډیپلوماټیکو آدابو او نړیوالو بنسټونو لکه د نړیوال قانون او ملګرو ملتونو پر بنسټ ولاړه ده (Clapton, 2014).

د انګلیسي مکتب بنسټ په ۱۹۵۰مه او ۱۹٦۰مه لسیزه کې د بریتانوي مفکرینو لکه هډلي بول، مارتین وایټ او بري بوزان له خوا کېښودل شو. دا مکتب د نړیوالو اړیکو د تیورۍ لپاره د بریتانیایي کمېټې له لارې بنسټیز شو او هڅه یې وکړه چې د امریکایي تیوریکو چوکاټونو پر خلاف یو ځانګړی، تاریخي او اخلاقي لیدلوری وړاندې کړي. انګلیسي مکتب د کلاسیکو سیاسي فلسفو څخه الهام اخلي او درې تاریخي دودونه سره نښلوي: واقعیت‌پالنه (هابس‌پالنه)، عقل‌پالنه (ګراټیوسی دود) او انقلاب‌پالنه (کانټي اند) (Lawler, 2024). د دغه مکتب مفهومي بنسټ پر درې اساسي مفاهیمو ولاړ دی: نړیوال سیستم، د دولتونو ټولنه او نړیواله ټولنه[1]. نړیوال سیستم د ریالېزم له لید لوري تعریفېږي،

[1] یادونه: پښتو ژبه کې د متبادلې اصطلاح د نشتون له امله (International Society) بین المللي ټولنه یا هم د دولتونو ټولنه او (World Society) نړیواله ټولنه باندې ژباړل شوي دي، که دواړه په نړیواله ټولنه و ژباړل شي، د دواړو ترمنځ توپیر به ستونزمن وي.

چې دولتونه د خپل پایښت او ځواک لپاره سیالانه چلند کوي. بلخوا، بین المللي ټولنه یا د دولتونو ټولنه دا استدلال کوي چې دولتونه یو لړ ګډ ارزښتونه، اصول او قواعد تعقیبوي چې د ډیپلوماسۍ، نړیوال قانون، د حاکمیت متقابلې پېژندنې او ځواک توازن له لارې تنظیمېږي (Holsti, 2009). هډلي بول په خپل اثر "انارشي ټولنه ۱۹۷۷" کې دا نظریه څرګندوي چې نړیوال سیستم انارشیک دی، خو دولتونه د همکارۍ او متقابلې پوهې له لارې یو ډول نظم رامنځته کوي (Bull, 2012).

په دریېمه کچه، د نړیوالې ټولنې مفهوم له دولتونو وروسته د افرادو، نادولتي بنسټونو، نړیوالو ارزښتونو او مدني ټولنو رول ته ارزښت ورکوي. دا نظریه ټینګار کوي چې نړیوال نظم یوازې د دولتونو ترمنځ نه، بلکې د بشري وجدان، نړیوالو اصولو، چاپېریالي ارزښتونو او د بشر د حقونو د نړیوالو نورمونو له لارې هم تعریفېږي (Hurrell, 2020). په پایله کې، انګلیسي مکتب د نړیوالو اړیکو لپاره یو شمولیت‌محور، اخلاقي، تاریخي او مفهومي چوکاټ وړاندې کوي چې هم د ځواک واقعیتونه درک کوي او هم د ارزښتونو، ټولنو او بنسټونو اهمیت ته ژوره پاملرنه کوي. د یادونې وړ ده چې دا مکتب نن ورځ هم د نړیوال نظم د بدلون، پایدارتیا او ننګونو د تحلیل لپاره یو پیاوړی تیوریک دریځ بلل کېږي (Linklater & Suganami, 2006).

لنډه دا چې د نړیوالو اړیکو د تیوریکو مکتبونو پرتله کول د نړیوال نظم د پېچلتیا او تنوع په اړه مهمې څرګندونې کوي .ریالېزم د ځواک او ځانبسیاینې پر بنسټ د نظم تشریح کوي، د شخړو او امنیتي کړکیچونو د وضاحت لپاره قوي بنسټونه وړاندې کوي .لیبرالېزم د مؤسساتو، همکارۍ او اقتصادي اړیکو په وسیله د نظم تشریح کوي، په داسې حال کې چې کنسترکتیوزم د بنسټیزو اقتصادي او ایډیولوژیکي جوړښتونو اغېزې په ګوته کوي او نظم په تاریخي بدلونونو او شرایطو پورې تړلی ګڼي (Sun, 2023). د انګلیسي مکتب تیوري بیا یو متوازن تحلیل وړاندې کوي چې هم د نړیوالې سیالۍ د انارشۍ او هم د ګډو ارزښتونو او معیاري نظم موجودیت ته اشاره کوي. هره تیوري د نړیوال نظم ځانګړی تفسیر وړاندې کوي، خو هېڅ یوه تیوري په

یوازې توګه په بشپړ ډول نړیوال نظم نشي تعریفولی. د دغو تیوریو د تکمیلي تحلیل پېژندنه د نړیوال نظم او د هغه د پرمختګ د ژورې پوهې لپاره اړینه ده (Karmazin, 2022).

### ۲. د نړیوال نظم بدلون

د نړیوال نظم تاریخي بدلون د نړیوالو اړیکو د تحول د پوهاوي لپاره یوه بنسټیزه موضوع ده. په تاریخي لحاظ نړیوال نظم د ځواک د وېش، ډیپلوماټیکو اصولو او نړیوالو بنسټونو له مخې بېلابېلې مرحلې تجربه کړې دي. د ویسټفالیا نظم (۱۶۴۸) د دولت حاکمیت ته بنسټ کېښود او د ماډرن دولت‌محوره نظم پیل یې وکړ. ورپسې د اروپایي کنسرټ (۱۸۱۵) د ګډې ډیپلوماسۍ له لارې د ثبات د ساتنې هڅه وکړه. د دویمې نړیوالې جګړې وروسته نظم د ملګرو ملتونو په مشرۍ، څو اړخیزوالي او نړیوالې حکومتولۍ ته وده ورکړه. په اوسني عصر کې نړیوالې اړیکې د نړیوالتوب او نادولتي لوبغاړو له لوري د دودیز نظم پر وړاندې نویو ننګونو سره مخ دي. دغه تحول د دولت‌محور نظم د بدلېدونکو بڼو او راتلونکي پایښت په اړه نوې علمي او فلسفي بحثونه زېږولي، چې د نړیوال نظم د راتلونکو بڼو د تحلیل اړتیا څرګندوي (Ikenberry, 2016).

#### ۱,۲. ویسټفالیایي نظم (۱۶۴۸–۱۸۱۵)

ویسټفالیایي نظم د ۱٦۴۸م کال د دېرش کلنې (۱٦۱۸-۱٦۴۸) مذهبي جګړې پای ته رسېدو سره سم رامنځته شو، چې د نړیوالو اړیکو په پرمختګ کې یې بنسټیز بدلون راوست. دغه تړون د دولت د بشپړ حاکمیت اصل مطرح کړ، چې له مخې یې هر دولت پر خپلو کورنیو چارو بشپړ واک لري او بهرنۍ مداخلې ته ځای نه ورکول کېږي. دا اصول د عصري دولت‌محوره نړیوال نظام بنسټ جوړ کړ، چې پکې د دولتونو ترمنځ حقوقي او سیاسي مساوات اصل وګرځېدل. ویسټفالیایي نظم د متقابل احترام پېژندنې او نه‌مداخلې پر بنسټ یو غیر مرکزي نړیوال سیستم رامنځته کړ او تر ننه د نړیوالو قوانینو او ډیپلوماټیکو اصولو لپاره اساسي مرجع ګڼل کېږي (Gross, 1948).

### ۲،۲. د اروپا کنسرټ (۱۸۱۵–۱۹۱۴)

د ناپلیوني جګړو له پای ته رسېدو وروسته د اروپا لویو قدرتونو په ۱۸۱۵ز کال کې د اروپا کنسرټ رامنځته کړ، ترڅو د لویو جګړو مخه ونیسي. دا نظام د ځواک د توازن پر اصل ولاړ و او د ګډو غونډو او مشورو له لارې یې ډیپلوماتیکې چارې پر مخ وړې. د اروپایی کنسرټ یوازینۍ موخه دا وه چې د یو دولت د بشپړ تسلط مخه ونیسي او اروپایي ثبات وساتي. کنسرټ د څو اړخیزې ډیپلوماسۍ او ګډ امنیت لومړنی ماډل ګڼل کېږي. دغه تجربې وښوده چې د قدرتونو ترمنځ همکاري او د خبرو اترو دوام کولی شي له جګړو د مخنیوي سبب شي (Elrod, 1976).

### ۳،۲. لیبرال نړیوال نظم (۱۹۴۵–تر اوسه)

د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو سره سم د امریکا په مشرتابه یو لیبرال نړیوال نظم رامنځته شو، چې ډیموکراټیک ارزښتونه، آزاد بازار او څو اړخیزه همکاري یې بنسټونه وو. د ملګرو ملتونو، نړیوال وجهي صندوق او نړیوال بانک په څېر بنسټونه جوړ شول، ترڅو نړیوال ثبات، پرمختګ او اقتصادي همغږي تأمین کړي. دا نظم د نړیوالو چارو د قانون د واکمنۍ، ګډې تصمیم نیونې او د ملتونو د متقابل تړاو مفکوره پیاوړې کړه، چې له ځواک‌محوره سیاست څخه د ارزښت‌محوره نړیوالو اصولو ته یو لوی بدلون و. سره له دې چې دا نظم اوس هم مطرح دی، خو د نویو قدرتونو، اقتصادي نابرابرۍ او ایډیالوژیکو ننګونو لخوا تر فشار لاندې دی (Moore, 2024).

### ۴،۲. دوه قطبي او یو قطبي نظمونه (۱۹۴۵–۲۰۰۰)

د سړې جګړې (۱۹۴۷-۱۹۹۱) پرمهال نړیوال نظم دوه قطبي بڼه غوره کړه، چې امریکا او شوروي اتحاد د دوو مخالفو ایډیالوژیکو او پوځي بلاکونو مشري کوله. هر یو بلاک خپل خپل ائتلافونه رامنځته کړي وو، لکه ناټو او د وارسا تړون چې د نړۍ پر هېژمونۍ یې له یو بل سره سیالي کوله. دغه دوه قطبي توازن له تقابل سره یو ډول ستراتیژیک ثبات هم

رامنځته کړ، ځکه چې د "متقابلې تباهۍ" وېره موجوده وه، خو ۱۹۹۱ کال کې د شوروي اتحاد له ړنګېدو سره سم نړۍ د امریکا تر مشرۍ لاندې یو قطبي حالت ته لاړه. دغه حالت که څه هم نړیواله رهبري واضح کړه، خو د مشروعیت، ځواک‌محورۍ نابرابرۍ او د نړیوال نظم د راتلونکې په اړه ګنې پوښتنې یې را ولاړې کړې (Heldt & Fioretos, 2024).

### ۵,۲. د څو قطبي نظم ظهور (۲۱مه پېړۍ)

د ۲۱ پېړۍ له پیل سره سم نړیوال نظم د څو قطبي کېدو پر لور روان دی، چې په پایله کې یې چین، هند، روسیه او نور راپورته کېدونکي قدرتونه د امریکا هېژموني ننګوي. دا د واک وېش د اقتصادي، تخنیکي او پوځي بدلونونو انعکاس دی، چې د نړیوال نفوذ نقشې ته نوې بڼه ورکوي. که څه هم څو قطبي نظم له یوې خوا د همکاریو نوي فرصتونه برابروي، خو له بلې خوا د سیالۍ او متقابل ګواښونه هم لري. دغه وضعیت د لیبرال نظم د پایدارۍ او د اوسنیو نړیوالو بنسټونو د اغېزمنتیا پر وړاندې پوښتنې را پورته کوي. په داسې حال کې چې نړیوال ځواک لا ډېر وېشل شوی، نړیوال سیاست هم د سیمه‌یز نفوذ، بدیلو ائتلافونو او فکري تنوع نوې مرحلې ته داخل شوی دی (Zhou, 2024).

### ٦,۲. نړیوال نظم کې د ملګرو ملتونو رول

ملګري ملتونه چې په ۱۹۴۵ ز کال کې رامنځته شول، د نړیوال نظم د ساتنې لپاره یو مرکزي بنسټ دی. دغه سازمان په سیاسي لحاظ څو اړخیزې ډیپلوماسۍ، د شخړو حل او نړیوالو معیارونو د ودې لپاره بنسټیز چوکاټونه رامنځته کړي دي، ترڅو دولتونه په سوله کې ژوند وکړي او له جګړو څخه مخنیوی وشي. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته نړیوال نظم د ملګرو ملتونو په رامنځته کېدو سره د څو اړخیزې همکارۍ او ګډ امنیت بڼه خپله کړې. د نړیوالو سازمانونو له ډلې ملګري ملتونه تر ټولو پراخ، جامع او قانوني حیثیت لري. دا سازمان د سولې او امنیت ټینګښت او پراختیا او بشري حقونو په برخو کې کار کوي. ملګري ملتونه هڅه کوي چې د شخړو مخنیوی، سیاسي منځګړیتوب او نړیوال ارزښتونه خوندي کړي چې نړیوال نظم ته ثبات ورکوي (Baird, Cassimatis, & Bantz, 2005).

ملګري ملتونه د نړېوالو شخړو د حل لپاره يو باثباته چوکاټ برابروي. د امنيت شورا، عمومي اسمبلي او د ځانګړو استازو دفترونه د شخړو د حل، د اوربند د رامنځته کېدو او د سولې د خبرو د تنظيم لپاره هڅې کوي،ترڅو د دولتونو ترمنځ د جګړو مخنيوي وشي او سوله تامين شي (Mingst, Karns, & Lyon, 2022). لنډه دا چې ملګري ملتونه له سياسي پلوه د نړيوال نظم يوه نه بدلېدونکې ستنه ده. سره له دې چې سياسي خنډونه، رقابتونه او د پليتوب نيمګړتياوې يې مؤثريت ته زيان رسوي، خو لا هم د سولې، همکارۍ او د زبرځواکونو ترمنځ د مخامخ جګړو د مخنيوي په برخه کې رغنده رول لري.

د يادونې وړ ده چې له دويمې نړيوالې جګړې را پديخوا ملګري ملتونه د پنځو وېټو لرونکو ځواکونو (امريکا، برتانيې، چين، روسيې او فرانسې) لخوا مخ پر وړاندې وړل کېږي (Baird, Cassimatis, & Bantz, 2005). د امنيت شورا دغه پنځه دايمي غړي د نړيوال نظم سرلاري ګڼل کېږي، چې د خپل وېټو ځواک نه په استفادې سره په نړۍ راج چلوي. کوچني او منځني دولتونه د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې کمزورې دريځ لري، د دوی غږ د پنځو دايمي غړو په شان نه اورېدل کېږي. د ملګرو ملتونو سازمان خپل ځانګړي اصول لري، هر هغه دولت چې د ملګرو ملتونو اصولو ته ژمن وي د دغه سازمان په دايره کې داخل ګڼل کېږي، هر دولت چې د ملګرو ملتونو سازمان پر وړاندې دريځ نيسي له دغه دايرې بهر ايستل کېږي. په همدې اساس، اسلامي امارت چې نوی واک ته رسېدلی دی، د دغه سازمان لخوا له ګڼو ننګونو سره لاس او ګرېوان دی، ځکه چې ملګري ملتونه د زبرځواکونو لخوا رهبري کېږي. که د زبرځواکونو ګټې په نظر کې و نه نيول شي، هېڅ دولت نه شي کولی چې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې فعال رول ولري.

### ۳. افغانستان او څو قطبي نړيوال نظم: ننګونې او فرصتونه

په معاصر نړيوال سياست کې د ځواک د وېش بڼه بدله شوې ده. د شلمې پېړۍ په وروستيو کې د شوروي اتحاد له سقوط سره سم نړيوال سياست تر ډېره د امريکا تر مشرۍ

لاندې یو قطبي نظم ته واوښت. امریکا د نړیوال اقتصاد، سیاست، امنیت او فرهنګي نفوذ په ډګر کې برلاسي قدرت شو (Muzaffar, Yaseen, & Rahim, 2017)، خو د یوویشتمې پېړۍ په لومړیو کې په ځانګړي ډول ۲۰۰۱ سپتمبر یوولسمې، ۲۰۰۸ اقتصادي بحران او بیا وروسته ۲۰۲۱ کال کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو له وتلو سره سم د امریکا هېژموني کمزورې شوه او د نړیوال نظم یو قطبي حالت د څو قطبي نظم په لوري روان شو (Jang & Namkoong, 2023). د یادونې وړ ده چې چین، روسیه، هند، ترکیه او نورو سیمه‌یزو ځواکونو هر یو د خپل نفوذ د پراختیا هڅې ګړندۍ کړې، چې په پایله کې یې د امریکا هېژموني له سختو ننګونو سره مخ کړې ده (Regilme & Parisot, 2018).

د پاملرنې وړ ده چې ځمکنیو حقائقو ته په کتنې سره د نړیوال نظم بدلېدونکی حالت د افغانستان لپاره د لویو فرصتونو او جدي ننګونو سبب شوی دی. افغانستان د منځنۍ آسیا، سوېلي آسیا، چین او روسیې لپاره ستراتیژیک ارزښت لري. که له یوې خوا د افغانستان جیوپولیټکي موقعیت د سوداګرۍ، ترانزیت، انرژۍ او سیمه‌یز اتصال لپاره یو ستراتیژیک هېواد ګڼل کېږي، خو په عین حال کې دا موقعیت د نړیوالو او سیمه‌یزو قدرتونو د سیالۍ ډګر هم ګرځېدلی دی (Rahman, Shah, Tomonobo, & Mirwais, 2023).

### ۱٫۳. د امریکایي نفوذ کمېدل او د نویو لوبغاړو را څرګندېدل

له افغانستانه د امریکا وتل د یو ستر ستراتیژیک تحول نښه وه. دا یوازې یوه پوځي پرېکړه نه وه، بلکې دا د واشنګټن د نړیوالو ژمنو په بیاکتنه او د نړیوال سیاست په نوې تجزیه باندې دلالت کاوه. د امریکا له وتلو سره سم نړیوال ځواکونه لکه چین، روسیه، ایران، هند، ترکیه، متحده عربي امارات، قطر او سعودي عربستان هر یو هڅه کوي چې په افغانستان کې خپل نفوذ پراخ کړي او د خپلو ګټو لپاره زمینه برابره کړي (Akhtar & Manzanay, 2024). دغه بدلون د افغانستان د جیوپولیټیکي وضعیت لپاره د نویو فرصتونو او ننګونو لامل شوی، ځکه چې هر هېواد د افغانستان له ستراتیژیک موقعیت څخه ګټه اخلي، ترڅو خپلې اقتصادي،

امنيتي او سيمه‌يزې ګټې خوندي کړي. دا ټول بدلونونه د افغانستان لپاره د پراخو ستراتيژيکو انتخابونو او ډيپلوماټيکو هڅو په توګه مطرح شوي دي (Davydov, 2022).

د چين ستر اقتصادي ابتکار "يو کمربند يوه لار" پروژه افغانستان ته حياتي ارزښت ورکوي. که د افغانستان امنيتي وضعيت مستحکم شي، دا هېواد کولی شي د چين له لوېديځو ولايتونو سره د واخان دهلېز له لارې وصل شي، چې له دې لارې د مرکزي آسيا، ايران او منځني ختيځ ترمنځ د ترانزيت نقطه جوړه شي (Manish & Kaushik, 2023). چين په افغانستان کې د زيربناوو جوړونې، اقتصادي پانګونې او د خامو موادو د استخراج لپاره پياوړی رول لوبولی شي. د "يو کمربند يوه لار" پروژه نه يوازې د افغانستان اقتصادي وضعيت ته وده ورکوي، بلکې د سيمې د سوداګريزو اړيکو د پراختيا لپاره يو حياتي فکتور دی. که د افغانستان داخلي ثبات او سيمه‌يزې همکارۍ وده وکړي، دا پروژه د افغانستان لپاره يوه ستراتيژيکه او د پراخو اقتصادي بدلونونو لامل کېدی شي (Fedayee, 2025).

روسيه د پخواني شوروي اتحاد د جمهوريتونو د بيا جلب او د نفوذ د احياء هڅه کوي، چې د افغانستان امنيت ته له ځانګړې ستراتيژيکې زاويې ګوري. مسکو د اسلامي امارت له اوسني حاکميت سره محتاط تعامل پيل کړی او هڅه کوي چې د افغانستان له خاورې د منځنۍ آسيا هېوادونو ته د توندلارو ډلو د نفوذ مخه ونيسي. روسيه افغانستان د يو احتمالي امنيتي ګواښ په توګه ګڼي، په ځانګړي ډول که د افغانستان وضعيت لا بې‌ثباته شي، نو دا بې‌ثباتي کولی شي د منځنۍ آسيا له لارې د روسيې فدراسيون ته هم خپره شي. په همدې اساس، روسيه هڅه کوي چې له يوې خوا له افغانستان سره امنيتي، اقتصادي او استخباراتي تعامل ولري او له بلې خوا د منځنۍ آسيا له خپلو متحدينو سره همغږي پياوړې وساتي. دا دوه‌ګونی سياست د مسکو لپاره د نفوذ د پراختيا او د داخلي امنيت د خونديتوب دواړه هدفونه تعقيبوي (Makoveeva, 2023).

هند چې له پخواني افغان حکومت سره يې نږدې او ژورې اړيکې لرلې، اوس هڅه

کوي چې له نوي سیاسي واقعیت یعني اسلامي امارت سره ځان عیار کړي او له افغانستان سره یو نوی ډیپلوماتیک فصل پرانیزي. د هند لپاره افغانستان نه یوازې یو تاریخي او فرهنګي همکار ګڼل کېږي، بلکې یو ستراتیژیک شریک هم دی، چې له لارې یې کولی شي خپلې اوږدمهالې سیمه‌یزې موخې تعقیب کړي. افغانستان د هند لپاره درې ستر اهمیتونه لري: لومړی، د مرکزي آسیا طبیعي منابعو، په ځانګړي ډول انرژۍ ته لاسرسی؛ دویم، د پاکستان د جیوپولیټیکي محاصرې لپاره بدیله لاره موندل او دریم د ترانزیتي دهلیزونو له لارې د خپل اقتصادي نفوذ پراخول (Ganie, 2016). هند هڅه کوي چې له اقتصادي همکاریو، تعلیمي پروګرامونو او بشري مرستو څخه په استفادې سره د افغانانو باور ترلاسه کړي او یو فعال رول ولوبوي، ترڅو د افغانستان د اتصال په ستراتیژۍ کې مهم بدلونونه راولي (Pant, 2010).

د دې ترڅنګ، ترکیه، قطر، سعودي عربستان، متحده عربي امارات او ایران هر یو هڅه کوي چې په افغانستان کې خپل نفوذ پراخ کړي او د خپلو ګټو لپاره زمینه برابره کړي (Akhtar & Manzanay, 2024). ترکیه د خپل تاریخي او فرهنګي تړاو له مخې له افغانستان سره ځانګړې اړیکې جوړوي او د بیارغونې پروژو، زیربناوو او امنیتي همکاریو له لارې خپل حضور پیاوړی کوي. قطر هم د پرمختللې ډیپلوماسۍ او د بشري مرستو له لارې خپل رول زیاتوي، په ځانګړې توګه د اسلامي امارت او متحده ایالاتو ترمنځ د سولې مذاکرات یې بې‌سارې ابتکار ګڼل کېږي. سعودي عربستان له مذهبي، اقتصادي او امنیتي همکاریو د پراختیا لپاره افغانستان ته د پام وړ مرستې وړاندې کوي، ترڅو خپلې مذهبي او ستراتیژیکې ګټې وساتي. متحده عربي امارات هم په افغانستان کې د پراخو اقتصادي پروژو په لټه کې دی او د نورو خلیجي هیوادونو سره د اړیکو په پراختیا کې مهم رول لوبوي. ایران د جغرافیایي، تاریخي او مذهبي اړیکو له مخې افغانستان کې خپل نفوذ پراخوي، په ځانګړې توګه سوداګرۍ او امنیتي همکارۍ کې د پام وړ رول لوبولی شي (Manish & Kaushik, 2023).

### ۲،۳. داخلي بې‌ثباتي او سیمه‌ییز رقابتونه

نړیوال نظم چې له یو قطبي څخه د څو قطبي په لوري روان دی، له یوې خوا به د افغانستان لپاره نوي فرصتونه برابر کړي، ترڅو د یو خپلواک دولت په حیث په نوي نړیوال نظم کې له نورو زبرځواکونو سره د همکارۍ او همغږۍ په پایله کې ځانګړی ځای ولري. له بلې خوا، د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتنې سره د نړیوال مشروعیت نشتون او د سیمه‌ییزو رقابتونو له امله دغه امکانات له جدي ننګونو سره مخ دي. افغانستان چې تازه له جګړو څخه راوتلی دی، د لویو قدرتونو په شان د سیاسي تجربې نشتون او له زبرځواکونو سره په نړیوال ډګر لوبېدل ورته آسانه کار نه دی، ترڅو له چین، هند، روسیې او امریکا سره سیالي وکړي (Weinbaum, 2021). د دې ترڅنګ، د افغانستان امنیتي وضعیت که څه هم د پخوا په پرتله د ډاډ وړ دی، ملوک الطوایفي ختم شوې او یو مرکزي حکومت رامنځته شوی دی، خو بیا هم د راتلونکو سناریوګانو لپاره باید کافي تیاری ولري، ترڅو وکولی شي په اسانۍ سره د احتمالي ګواښونو پر وړاندې د یو پیاوړي دولت په حیث ځاني دفاع وکړي (Yousuf, 2023).

همدارنګه، په سیمه‌ییزه کچه د افغانستان وضعیت د سیمه‌ییزو قدرتونو د رقابت له امله نور هم پېچلی شوی دی. د هند او پاکستان دوامداره سیالي چې افغانستان یې د خپل نفوذ ډګر ګرځولی دی، یوه بله ستره ننګونه ده چې افغانستان د دواړو رقیبانو ترمنځ بیلانس وساتي (Baral, 2013). هند د افغانستان له لارې د منځنۍ آسیا سره خپلې اقتصادي او ستراتیژیکې اړیکې پراخوي. ایران د خپلو تاریخي او کلتوري اړیکو په اساس د افغانستان په چارو کې مستقیم نفوذ لري. روسیه هم د افغانستان د امنیتي وضعیت په اړه اندېښمنه ده او غواړي چې د منځنۍ آسیا په لوري د توندلارو ډلو نفوذ کم کړي (Makoveeva, 2023). لنډه دا چې سیمه‌ییز رقابتونه د افغانستان لپاره د زبرځواکونو او سیمه‌ییزو لوبغاړو ترمنځ ډیپلوماټیک توازن جوړونه ننګوي. که د دغو رقابتونو مدیریت په سم ډول و نه

شي، افغانستان به بېرته د نیابتي جګړو او سیمه‌یزو تاوتریخوالو ډګر ته واوړي، چې دا به د افغانستان لپاره یو بل لوی بحران وي. په همدې اساس، اسلامي امارت ته پکار ده چې د دغو ستونزو د حل ترڅنګ خپل داخلي یووالي باندې تمرکز وکړي او نړیوال مشروعیت ترلاسه کړي، ترڅو په نوي نړیوال نظم کې ګټور دریځ ولري.

### ۳,۳. اقتصادي امکانات او زیربنایي پرمختګ

د څو قطبي نړیوال نظم رامنځته کېدل افغانستان ته یواځې سیاسي نه، بلکې بې‌سارې اقتصادي فرصتونه هم برابروي چې د تېرو دورو په پرتله یې تصور ستونزمن و. د سیمې هېوادونه اوس افغانستان د انرژۍ د ترانزیت، سیمه‌یزو بازارونو او اقتصادي نښلون یوه مهمه کړۍ ګڼي. ستراتیژیکې پروژې لکه د تاپي ګاز پایپ‌لاین، د کاسا–۱۰۰۰ برېښنا پروژه، د چابهار بندر ته لاسرسی او د اورګاډي کرښو طرحې، دا ټول افغانستان ته د سیمه‌یز ارتباط یوه اساسي درجه ورکوي (Mughal & Suleman, 2021). دا پروژې نه یوازې اقتصادي پرمختګ ته زمینه برابروي، بلکې د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ته هم نوي ارزښتونه وربښي. د یادونې وړ ده چې دا فرصتونه یوازې هغه مهال عملي کېږي چې افغانستان د امنیت ټینګښت، شفافیت، مؤثر مدیریت او خپل سیاسي ثبات تضمین کړي. افغانستان کولی شي د یو باثبات او نړیوال مشروعیت لرونکي دولت په توګه چې د نړیوالو باور ترلاسه کړي، د سیمې د اتصال یوه مرکزي نقطه وګرځي. دا به نه یوازې د هېواد اقتصادي راتلونکی بدل کړي، بلکې د ټولې سیمې لپاره به هم د سوکالۍ او همکارۍ یوه مهمه لاره پرانیزي (Mughal & Suleman, 2021).

### ۴,۳. د څو قطبي نظم په رڼا کې د افغانستان ستراتیژیک مسیر

د نړۍ له یو قطبي نظم نه څو قطبي ته د تګ بدلون، کوچنیو او متوسطو هېوادونو ته هم فرصتونه او هم مسؤلیتونه راوړي (Shivamurthy, 2021). افغانستان چې د خپل جیوپولیټیک موقعیت له مخې د قدرتونو د سیالیو په منځ کې موقعیت لري، اوس باید له زبرځواکونو او سیمه‌یزو هېوادونو سره متوازن او ستراتیژیک تعامل وساتي. دا په دې معنی

چې یوازې له یو ځواک سره اتحاد یا تقابل کول افغانستان ته ګټه نه لري؛ بلکې اړتیا ده چې له ټولو مهمو نړیوالو او سیمه‌یزو لوبغاړو سره د ملي ګټو پر بنسټ اړیکې وساتل شي.

په دې بهیر کې ډیپلوماسي، توازن، انعطاف او د ملي حاکمیت ارزښت بنسټیز رول لري. افغانستان باید هڅه وکړي چې د قدرتونو ترمنځ له رقابته د فرصتونو په توګه استفاده وکړي، خپل اقتصادي پرمختګ ته وده ورکړي، د ټرانزیت، پانګونې او اتصال له نړیوالو پروژو سره یوځای شي او خپل ستراتیژیک موقعیت درک کړي. د دې ترڅنګ، دا پړاو یوازې د فرصتونو نه، بلکې د ستراتېژیکو مسؤلیتونو پړاو هم دی. د ثبات، امنیت، شفافې ادارې او ملي وحدت نشتوالی کولی شي دا فرصتونه له منځه یوسي. که د زبرځواکونو او سیمه‌یزو قدرتونو ترمنځ نسبي بیلانس وساتل شي، د بلاکونو پرځای خپل ستراتیژیک اهداف تعقیب شي، د نړیوالو اندېښنو په برخه کې رغنده ګامونه واخیستل شي، د افغانستان اسلامي امارت به وکولی شي له څو قطبي نظم نه ستراتیژیکه، اقتصادي او سیاسي ګټه پورته کړي (Acharya, Estevadeordal, & Goodman, 2023). بالعکس، که دا چانس ضایع شي، نو افغانستان به یو ځل بیا د زبرځواکونو د سیالیو، نیابتي رقابتونو او بهرني نفوذ قرباني شي.

### ۴. د افغانستان د بهرنۍ تګلارې پړاوونه

د افغانستان د بهرنۍ تګلارې مسیر په تېرو سلو کلونو کې ژور بدلونونه لیدلي، چې د هېواد کورنۍ پېچلتیاوې او د نړۍ سیاسي جغرافیایي بدلونونه یې مهم عوامل وو. افغانستان په ۱۹۱۹ میلادي کال کې له خپلواکۍ ترلاسه کولو سره سم هڅه وکړه چې خپل ملي حاکمیت وساتي او د نړۍ له زبرځواکونو سره د احتیاط په فضا کې تعامل ولري (Yawar, 2024). افغانستان په ستراتیژیک لحاظ د مرکزي او سوېلي آسیا په څلور لارې کې پروت دی، چې د نړیوالو قدرتونو د سیالیو یوه مهمه ساحه ګرځولې ده. له بې‌طرفۍ نه نیولې د سړې جګړې تر پیچلتیاوو او له ۲۰۰۱ کال وروسته د نړیوالو ائتلافونو تر ملګرتیاوو پورې،

د افغانستان بهرنۍ تګلاره تل د ملي ګټو او نړیوال فشار ترمنځ د یو متوازن سیاست هڅه کړې ده، خو متأسفانه د بهرنیو فشارونو او خپلمنځي ستونزو له امله افغانستان په دې نه دی توانیدلی چې په نړیوال سطح باندې نسبتا پیاوړی دریځ ولري (Hampson, 2012).

## ۱,۴. د خپلواکۍ لومړني کلونه او د حاکمیت د پیاوړتیا هڅې (۱۹۱۹–۱۹۴۵)

د انګریزي ښکېلاک څخه له آزادۍ اخیستنې سره سم افغانستان د نوې دورې د بهرنۍ تګلارې پیل د ۱۹۱۹ز کال کې وشو. د امان الله خان د دورې پرمهال د راولپنډۍ تړون د افغانستان لپاره د بهرنیو اړیکو دروازه پرانیستله (Yawar, 2024). امان‌الله خان د بهرنیو اړیکو په ډګر کې ماډرن ګامونه واخیستل، ترڅو افغانستان د نړۍ له نورو خپلواکو دولتونو سره مزل وکړي. افغانستان چې له انګریزي ښکېلاک څخه یې تازه آزادي ترلاسه کړې وه، د خپلې بهرنۍ پالیسۍ له مخې یې د شوروي اتحاد او بریتانوي هند سره په یو ډول متوازنې اړیکې وساتلې. سره له دې چې دغه دواړو قدرتونو مختلف سیاسي نظامونه درلودل، افغانستان له دواړو سره تجارتي او سیاسي تړونونه لاسلیک کړل او د متقابل حاکمیت درناوی یې بنسټ وګرځاوه (Aybudak, 2022).

## ۲,۴. د سړې جګړې دوره او د زبرځواکونو سیالي (۱۹۴۵–۱۹۹۱)

د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو سره سم د نړۍ نظم دوه قطبي شو، د شوروي اتحاد او متحده ایالاتو په مشرۍ دوه لوی ختیځ او لوېدیځ بلاکونه رامنځته شول. د افغانستان جغرافیوي موقعیت، چې د شوروي اتحاد له غړو سره ګډه پوله لري او له منځني ختیځ او سوېلي آسیا سره نږدې دی، دا هېواد د مسکو او واشنګټن د ستراتیژیکو محاسباتو یوه مهمه نقطه وګرځوله (Kumar, 2022). په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ کلونو کې افغانستان له دواړو بلاکونو، یعنې شوروي اتحاد او امریکا اقتصادي او پوځي مرستې ترلاسه کړې. زیربنایي پراختیا، تعلیمي پروژې او پوځي روزنې د دواړو بلاکونو لخوا تمویلېدې، چې افغانستان ته یې د خپلې بې‌طرفۍ د ساتنې چانس ورکړ (Taylor, 2013)، خو دا توازن په ۱۹۷۰ کلونو کې د شوروي نفوذ د زیاتېدو له امله ګډوډ شو او په ۱۹۷۸ کال کې د ثور انقلاب په ترڅ کې

شوروي بلاک له افغانستان سره ډېر نژدې شو (Rakove, 2023).

د ثور د انقلاب په پایله کې شوروي اتحاد په دې وتوانید چې په **۱۹۷۹** کال کې پر افغانستان یرغل وکړي او د افغانستان بهرنۍ تګلاره یې اغېزمنه کړه. دا یرغل نه یوازې د ملي حاکمیت خلاف و، بلکې نړیوال غبرګون یې را وپاراوه. د شوروي یرغل په پایله کې افغانستان د سړې جګړې یو نیابتي ډګر وګرځېد، چې امریکا، پاکستان، سعودي عربستان او نورو هېوادونو د شوروي یرغل پر وړاندې د مجاهدینو ملاتړ ته را ودانګل. په دغه مرحله کې د افغانستان بهرنۍ تګلاره د نیابتي جګړو ښکار شوه او د شوروي یرغلګرو تر سیوري لاندې حکومتونو د افغانستان بهرنۍ پالیسي د شوروي اتحاد تر ګټو قرباني کړه (Burrough, 2009).

### ۳,۴. د شوروي له ماتې وروسته وخت او کورنۍ جګړې (۱۹۹۱-۲۰۰۱)

په ۱۹۸۹ کال کې له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو وتل او د کمونستي رژیم سقوط افغانستان د یو نوي بحران په لوري سوق کړ. مجاهدین چې د یو ګډ دښمن پر وړاندې متحد وو، خپلمنځي جګړو باندې مصروف شول. ایران، پاکستان، هند او نورو ګاونډیان هر یو د خپلې خوښې ډلې ته ملاتړ ورکاوه، چې د افغانستان کورنۍ بحران یې لا پسې ژور کړ (Kumar, 2022).

په ۱۹۹۶کال کې طالبان د یو غالب ځواک په توګه را څرګند شول او د افغانستان اسلامي امارت یې تأسیس کړ. د افغانستان اسلامي امارت خپله بهرنۍ تګلاره له ایډیالوژیکو بنسټونو، محدودو ډیپلوماټیکو اړیکو او نړیوالې انزوا سره مل وه. یوازې درې هېوادونو (پاکستان، سعودي عربستان او متحده عربي امارات) د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژندلی و (Fedayee, 2024). د اسلامي امارت د لومړۍ واکمنۍ پرمهال افغانستان تر بل هر وخت ډېر منزوی و، چې د نړیوالې ټولنې د سیاسي او اقتصادي فشارونو په پایله کې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د ناټو په ملتیا سره را نسکور شو. د

افغانستان اسلامي امارت د لومړۍ دورې واکمني که څه هم د خپلمنځي جګړو پر وړاندې اغېزمنه وه، خو د نړیوالو اړیکو په ډګر کې د محدودیتونو او فشارونو په پایله کې په دې و نه توانید چې نړیوالې ټولنې سره نسبتا ښې اړیکې ولري (Fedayee, 2024).

**۴,۴. د سپتمبر له یوولسمې وروسته دوره او نړیوال تعامل (۲۰۰۱–۲۰۲۱)**

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر له یوولسمې پېښې وروسته د امریکا په مشرۍ د ناټو د یرغل په پایله کې د افغانستان اسلامي امارت نسکور شو. د بن توافق‌نامې د حامد کرزي په مشرۍ د نوي انتقالي حکومت بنسټ کېښود، چې د نړیوال ملاتړ لاندې یې فعالیت پیل کړ (Fedayee, 2024). د نوي انتقالي حکومت د پیاوړتیا په موخه افغانستان د ملګرو ملتونو، نړیوال بانک، نړیوال وجهي صندوق او نورو نړیوالو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کړ او افغانستان په پراخه کچه له بهرني ملاتړ څخه برخمن شو. په همدې اساس، که له یوې خوا افغانستان له نړیوالې ټولنې سره نژدې شو، خو له بلې خوا د افغانستان بهرنۍ تګلاره له بهرني ملاتړ سره تړلې پاتې شوه. که څه هم افغان حکومت نړیوال مشروعیت ترلاسه کړ، خو اصلي حاکمیت یې نیمګړی پاتې شو؛ ځکه مهمې امنیتي او اقتصادي پرېکړې بهرنیانو پورې تړلې وې (Rubin, 2006).

د یادونې وړ ده چې د امریکایي یرغل پر مهال رامنځته شوی جمهوریت، چې له پراخ مالي او سیاسي ملاتړ څخه برخمن و، په سمبولیکه توګه د امریکا پر مټ له هند، ایران او مرکزي آسیا سره خپلې اړیکې پراخې کړې وې. د دې ترڅنګ، افغانستان د سیمه‌یزو ابتکاراتو لکه د سارک سازمان او د استانبول د زړه پروسې په څېر سیمه‌یزو سازمانونو کې هم ګډون کړی دی. په هر حال، کورني اختلافات، پراخ اداري فساد او بهرنیو لاسوهنو د یو خپلواک هېواد په توګه د افغانستان فعالیت محدود کړ (Wafa & Yar, 2024).

**۵,۴. د اسلامي امارت بیا ځلي واکمني او اوسنی وضعیت (۲۰۲۱–تراوسه)**

په ۲۰۲۱ کال کې له افغانستان څخه د امریکا لخوا د ځواکونو ایستل او د اسلامي امارت بیا واک ته رسېدل د افغانستان په بهرنۍ تګلاره کې یو بل بنسټیز بدلون راوست. د اسلامي

امارت بیا واکمنېدل یو ځل بیا د مشروعیت، رسمیت پېژندنې او نړیوال تعامل بحثونه راپورته کړل. د افغانستان اسلامي امارت نسبتا پراګماتیک دریځ غوره کړ، ترڅو نړیوال مشروعیت ترلاسه کړي (Mirzayi, 2023). له چین، روسیې، خلیجي هېوادونو، ترکیې، ایران، پاکستان او مرکزي آسیا سره یې اړیکې پراخې کړې (Rahimi, 2023) (Akram & Akbar, 2023)

د اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره تر ډېره د نړیوال مشروعیت د ترلاسه کولو پر محور راڅرخي، ځکه چې دا مشروعیت د سیاسي ثبات، اقتصادي پایښت او له نړیوال سیستم سره د تعامل لپاره بنسټیز اهمیت لري. اسلامي امارت د نړیوالو واقعیتونو په رڼا کې واقع‌بینانه چلند غوره کړی او دا یې درک کړې چې انزوا د حکومتولۍ او پرمختګ مخه نیسي (Plyais, 2023). که څه هم نړیوالو بندیزونو او غبرګونونو د اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره تر یو بریده اغېزمنه کړې، خو اسلامي امارت تل هڅې کوي چې له خپلو ګاونډیو او سیمه‌یزو هېوادونو سره ډیپلوماټیک تماسونه ټینګ کړي، چې د ګډو ګټو خوندیتوب سره نسبي تفاهم لري (Mirzayi, 2023).

اقتصادي فشارونه او له نړیوالې انزوا څخه د ځان ژغورنې هڅې هغه مهم عوامل دي چې د اسلامي امارت د بهرني سیاست شکل ټاکي. سره له دې چې اسلامي امارت د ډیپلوماټیکو اړیکو د ټینګښت او د یو نرم دریځ د وړاندې کولو هڅې روانې کړې دي، خو لا هم د نړیوالې ټولنې لخوا د بشري حقونو، تروریزم او سیمه‌یز ثبات په څېر جدي اندېښنې د نړیوال مشروعیت پر وړاندې خنډونه دي. له همدې امله، د افغانستان بهرنۍ تګلاره لا هم د بدلون په پړاو کې ده او اسلامي امارت هڅه کوي له نړۍ سره د متقابل درناوي په ترڅ کې تعامل وشي (Mirzayi, 2023). د اسلامي امارت دغه تګلاره «ستراتېژیک پراګماتیزم[1]» ګڼل کېږي، چې واقع‌بینانه چلند له ایډیالوژیک ثبات سره یو

[1] ستراتېژیک پراګماتیزم هغه ستراتیژیکه تګلاره ده چې لوی او اوږدمهاله هدفونه د واقعي، انعطاف‌منوونکي او ګټورو اقداماتو له لارې تعقیبوي، داسې چې اوسني محدودیتونه په پام کې نیسي او د خپلو اهدافو لپاره په مهارت سره هلې ځلې کوي.

ځای کوي. د بېلګې په توګه، د مسکو د فارمټ غونډو او د شانګهای سازمان د احتمالي غړيتوب لپاره علاقه د دې ښکارندوی کوي، چې اسلامي امارت د څو قطبي نظم لوري ته د تګ اراده لري. د يادونې وړ ده چې د افغانستان کنګل شوې شتمنۍ، اقتصادي بحران او نړيوال مشروعيت د اسلامي امارت د بهرنۍ تګلارې مؤثريت محدودوي (Aria, Ziaee, & Quraishi, 2025).

لنډه دا چې د افغانستان بهرنۍ تګلاره د وخت په تېرېدو سره له بېلابېلو پړاوونو څخه تېره شوې، چې تل د کورنيو ستونزو او نړيوالو شرايطو تر اغېز لاندې پاتې شوې ده. له خپلواکۍ وروسته د بې‌طرفۍ هڅې، د سړې جګړې پيچلتياوې، د سپټمبر له يوولسمې وروسته نړيوال تعامل او د اسلامي امارت بيا واکمنېدل ټول د دې خبرې ښکارندويي کوي چې افغانستان تل هڅه کړې خپله خپلواکي وساتي، خو متأسفانه د لويو قدرتونو او سيمه‌يزو لاسوهنو له امله په دې نه دی توانېدلی چې د نورو دولتونو په شان نړيوال ستيج باندې وځلېږي (Weinbaum, 2021). د دې ترڅنګ، اسلامي امارت تل هڅه کوي چې د سيمه‌يزو او نړيوالو واقعيتونو پر بنسټ تګلاره غوره کړي، خو د نړيوال مشروعيت نشتون يې تر ټولو ستره ننګونه ده (Solhdoost, 2023). دا چې اوسمهال يو زرين فرصت په لاس راغلی دی، افغانستان بايد يوه مؤثره بهرنۍ تګلاره جوړه کړي چې له نړيوالو او سيمه‌يزو قدرتونو سره ستراتيژيک تعامل ولري او کورنۍ ستونزې لکه اقتصادي بې‌ثباتي او داخلي اختلافات چې د تېرې څلوېښت کلنې جګړې ثمره ده، په سوليزه بڼه حل کړي.

**٥. د زبرځواکونو ترمنځ ستراتيژيک توازن: په څو قطبي نړۍ کې اسلامي امارت**

د نړيوال نظم بدلېدونکې بڼه چې د امريکا په مشرۍ له يو قطبي حالت نه څو قطبي په لوري روان دی، د اسلامي امارت لپاره يوه پېچلې ستراتيژيکه فضا رامنځته کړې ده. له داسې نړيوال سيستم څخه چې د سړې جګړې پرمهال د امريکا او شوروي اتحاد په مشرۍ دوه قطبي نظم او بيا د متحده اياالاتو يو قطبي نظم واکمني کوله، اوس نړۍ د چين، روسيې او هند په څېر د زبرځواکونو ترمنځ يو قطبي نظم په څو قطبي نظم باندې بدلېدونکی دی.

دغه بدلون د ځواکمنو دولتونو ترمنځ د اړیکو، اتحادونو او سیمه‌یزو تعاملاتو په جوړښت کې ژور بدلونونه رامنځته کوي (Slimia, 2023). اسلامي امارت ته پکار ده چې د زبرځواکونو ترمنځ په نړیوالو او سیمه‌یزو سیالیو کې خپل دریځ په ډېر دقیق او ځیرک ډول تنظیم کړي، ترڅو د هېڅ لوري سره تقابل کې واقع نه شي، بلکې یوازې د دوی ترمنځ خپلې ملي ګټې خوندي کړي.

### ۱،۵. د زبرځواکونو رول او د څو قطبي نظم جوړښت

په نوي نړیوال نظم کې د چین او روسیې ترمنځ ستراتیژیکه ملګرتیا د متحده ایالاتو د یو اړخیز سیاست پر وړاندې یو مهم بدیل وړاندې کوي. دغه اتحاد د څو قطبي نړیوال نظم ملاتړ کوي چې د ملګرو ملتونو د اصولو لکه ملي حاکمیت، د مداخلې څخه ډډه او ډیپلوماتیکې همکارۍ پر بنسټ ولاړ دی (Slimia, 2023). بلخوا، متحده ایالات هم خپل سیاست له څو قطبي وضعیت سره سم تنظیموي او د یو قطبي هېژمونۍ پرځای د نورو زبرځواکونو سره د همکارۍ او متوازن ستراتیژیک سیاست پلوي کوي. متحده ایالات په دې پوهېدلي چې په نړیوال ستېج یوازې لوبېدل ستونزمن شوي دي، ترڅو د شوروي اتحاد له ماتې وروسته دورې په شان په یوازې ځان په نړۍ واکمني وکړي (Lind, 2008).

### ۲،۵. سیمه‌یزې سیالۍ او د اسلامي امارت ستراتیژیک دریځ

په سیمه کې د ایران اغېز او منځني ختیځ کې د ایران لاسوهنو د عربي هېوادونو ترمنځ د قدرت توازن ته زیان رسولی، چې له دې ډلې سعودي عربستان او ترکیه هم متاثره شوي دي. دغه وضعیت نوي اتحادونه او شخړې را منځته کوي چې د اسلامي امارت د ستراتیژیکو حسابونو لپاره مهمې اغېزې لري. سربېره پردې، په منځني ختیځ کې ځینې منځني ځواکونه د خطر کمښت یا د یوې خوا څخه بلې خوا ته د توازن ساتنې سیاستونه کاروي، چې دا بیا د زبرځواکونو د سیاستونو پر وړاندې ستونزې رامنځته کوي (Meijer & Simón, 2021).

ځینې څېړونکي د اسلامي امارت رول د نړیوالو سیالیو په ستراتیژیکو پلانونو کې مهم ګڼي، خو ځینې بیا وايي چې سیمه‌یز ځواکونه خپلې سیمه‌یزې ګټې ډېرې مهمې ګڼي او د لویو قدرتونو پراخې موخې دومره اغېزمنې نه وي. دا نظر په دې ټینګار کوي چې سیمه‌یز شرایط ممکن د اسلامي امارت په راتلونکې کې د زبرځواکونو د ستراتیژیکو هڅو پر وړاندې ډېر اهمیت ولري (Majeedi, 2024). له همدې امله، د اسلامي امارت د بهرني سیاست او ستراتیژیکو پرېکړو د سمې پوهې لپاره باید د نړیوالو او سیمه‌یزو قدرتونو متقابلې اغېزې په جدي توګه مطالعه شي.

لنډه دا چې په څو قطبي نړیوال نظم کې د زبرځواکونو ترمنځ ستراتیژیک توازن یو پیچلی او متحرک نړیوال چاپیریال رامنځته کړی دی. اسلامي امارت باید په دغه ډګر کې یوازې د زبرځواکونو د رقابتونو د پوهېدو لپاره نه، بلکې د سیمه‌یزو ځانګړتیاوو او سیمه‌یزو لوبغاړو د ګټو د درک لپاره هم ځانګړی سیاست وکاروي. د اسلامي امارت راتلونکی په دې پورې اړه لري چې څومره په دې پیچلو شرایطو کې د خپلو فرصتونو د ګټې او ګواښونو د کمښت اړتیا ولري.

### ۳،۵. د اسلامي امارت او متحده ایالاتو اړیکې

د اسلامي امارت او متحده ایالاتو ترمنځ اړیکې د ۲۰۲۱ز کال له تحول وروسته یو له هغو پېچلو او مهمو اړیکو څخه دي چې د نړیوال سیاست پر تګلارو ژور اغېز لري. د امریکا له وتلو سره سم افغانستان له یوې ستراتیژیکې خلا سره مخ شو، چې له یوې خوا یې فرصتونه او له بلې خوا سترې ننګونې رامنځته کړې. دا وضعیت اسلامي امارت دې ته اړ کړ چې د خپل مشروعیت لپاره نوې لارې ولټوي، ترڅو سیمه‌یزو او نړیوالو ځواکونو سره خپل دریځ تنظیم کړي (Analytica, 2024).

د امریکا له وتلو سره سم اسلامي امارت ته دا زمینه برابره شوه چې د بهرني اشغال له سیوري پرته خپلواکه پالیسي تعقیب کړي؛ خو له بلې خوا د نړیوالو په ځانګړي ډول د لویدیځو هېوادونو له خوا د رسمیت پېژندنې نشتوالی د ډیپلوماسۍ او اقتصاد په برخو کې

خنډونه جوړ کړل. اسلامي امارت هڅه کړې چې له چین، روسیې، ایران او نورو سیمه‌یزو قدرتونو سره اړیکې پراخې کړي او په عین حال کې له لویدیځ سره د خبرو غیر مستقیم کانالونه پرانیستي وساتي (Soltani, 2024).

له امریکا سره اړیکې تر ډېره د شک، محاسبې او محدودې همکارۍ پر بنسټ ولاړې دي. د متحده ایالاتو ښکاره پالیسي د ترهګرۍ ضد اقداماتو، د بشري حقونو په ځانګړي ډول د ښځو د وضعیت او د ترهګرو لخوا د افغان خاورې د نه کارونې په اړه تمرکز لري (Dobbins, Andrew, & Miller, 2022). که څه هم اسلامي امارت تراوسه نړیوال مشروعیت نه لري، خو د امریکا متحده ایالات غیر مستقیمې اړیکې ساتي، چې په پایله کې یې د امریکایي بندیانو آزادولو ته زمینه برابره شوې ده. شنونکي باور لري چې د امریکا د پالیسۍ بدلون، په ځانګړي ډول د نویو حکومتونو تر مشرۍ لاندې، کېدی شي اسلامي امارت ته د عملي تعامل دروازې پرانیزي (Friedman, 2025). د دې ترڅنګ، په سیمه‌یزه کچه د قدرت توازن نور هم څو قطبي شوی. چین او روسیه له افغانستان سره اقتصادي او سیاسي اړیکې پراخوي او که امریکا وغواړي خپل نفوذ وساتي، باید یو انعطاف منونکی او د ګټو پر بنسټ تعامل غوره کړي. په همدې چوکاټ کې د اسلامي امارت ډیپلوماسي او د توازن پالیسي به دا وښیي چې افغانستان د نړیوال نظم په راتلونکې کې څه ډول رول لوبوي.

### ۴,۵. د افغانستان او روسیې اړیکې

له افغانستانه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته روسیې د افغانستان په سیمه‌یزو اړیکو کې د نوې بڼې اخیستنې لپاره مهم رول خپل کړی دی. د افغانستان اسلامي امارت او روسیې فدراسیون ترمنځ اړیکې اوس د امنیتي همکاریو، سیمه‌یزو محاسبو او اقتصادي ګټو پر محور څرخېږي. که څه هم روسیه لا هم اسلامي امارت په رسمي توګه نه پېژني، خو د دواړو اړخونو تعامل ژور ستراتیژیک اهداف څرګندوي. د دغو اړیکو تر ټولو مهم

محرک د ترهګرۍ ضد همکاري ده. دواړه خواوې، په ځانګړې توګه د داعش خراسان څانګې له لوري ګډ تهدیدونه احساسوي. دا ډله نه یوازې د افغانستان امنیت ته ګواښ پېښوي، بلکې د روسیې جنوبي پوله او د منځنۍ آسیا متحدینو ته هم خطر دی. له همدې امله، روسیې له اسلامي امارت سره د امنیتي همکارۍ هڅې زیاتې کړې دي، ترڅو د ترهګرۍ د پراخېدو مخه ونیسي (OSINTTeam, 2025).

له بلې خوا، روسیه افغانستان د لوېدیځ د نفوذ پر ضد د یو ستراتیژیک حایل په توګه ویني. مسکو هڅه کوي له اسلامي امارت سره محدودې خو محاسبه شوې اړیکې وساتي، ترڅو له یوې خوا خپل امنیتي اهداف تعقیب کړي، او له بلې خوا، د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې له بار څخه ځان وساتي. د روسیې د دوه ګوني سیاست نښې د مسکو فارمټ په څو اړخیزو غونډو کې د افغان پلاوو کوربتوب او د اقتصادي همکاریو بحثونو کې څرګندې شوې دي، چې تازه بېلګه یې د کازان غونډه ګڼلی شو (Zakharov, 2023).

د دې ترڅنګ، اسلامي امارت په اقتصادي ډګر کې له روسیې سره د نفتو، ګازو، ترانزیټ او بنسټیزو پروژو په برخه کې همکارۍ ته لېواله دی. که څه هم دا همکاري کولی شي اسلامي امارت ته اقتصادي فضا پراخه کړي، خو روسیه لا هم د لوېدیځو بندیزونو او د اسلامي امارت د نړیوال مشروعیت نشتون له کبله احتیاط کوي. په هر صورت، د افغانستان او روسیې اړیکې له امنیتي تهدیدونو، سیمه‌یزو محاسبو او اقتصادي تعاملاتو څخه اغېزمنې دي (RASC, 2025). د یادونې وړ ده چې د دغو اړیکو راتلونکې د سیمه‌یز ثبات، نړیوالو تعاملاتو او د اسلامي امارت د داخلي او بهرني سیاست له مسیر سره تړاو لري.

### ۵،۵. د افغانستان او چین اړیکې

د افغانستان او چین اړیکې په وروستیو کلونو کې له پام وړ بدلون سره مخ شوې دي، چې بنسټ یې د اقتصادي همکاریو، امنیتي اندېښنو او سیمه‌یز ثبات پر اصولو ولاړ دی. چین د افغانستان اسلامي امارت د یو ستراتیژیک ګاونډي په توګه ګڼي، چې ثبات یې د

چین د سیمه‌یزو طرحو، په ځانګړي ډول د "یو کمربند یوه لار" نوښت د بریا لپاره اړین ګڼل کېږي. سره له دې چې چین تراوسه اسلامي امارت په رسمیت نه پېژني، خو بیجینګ له کابل سره پراخې ډیپلوماتیکې اړیکې ساتلې او د متقابلو ګټو په برخو کې یې د همکاریو چمتووالی ښودلی دی (Mishra, 2024).

د چین لپاره تر ټولو مهم اقتصادي لېوالتیاوې د افغانستان په طبیعي زېرمو کې نغښتې دي. افغانستان د لیتیم، مس او نادرو فلزاتو شتمنې زېرمې لري، چې چین یې د خپل صنعتي او تخنیکي پرمختګ لپاره ډېر ارزښتناک بولي (Fedayee, 2025). چین هڅه کوي چې دا زېرمې ترلاسه کړي او له دې لارې د خپل صنعت دوام تضمین کړي. د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز له لارې چین کوښښ کوي چې افغانستان د خپل نوښت له لارې له سیمه‌یزو بازارونو سره وصل کړي، چې دا به افغانستان ته د اقتصادي ودې، پانګونې او کاري فرصتونو د برابرېدو امکان ورکړي (Yousafzai, 2025).

سربېره پردې، امنیت هم د دواړو هېوادونو د اړیکو یو مهم اړخ جوړوي. چین په ځانګړي ډول د داعش ډلې له لوري د احتمالي ګواښونو له امله اندېښمن دی، ځکه چې دغه ګواښونه د چین د شینجیانګ ایالت او منځنۍ آسیا لپاره د ناامنۍ سبب کېدی شي. له همدې امله، چین له اسلامي امارت سره د امنیتي همغږۍ، اقتصادي همکارۍ او سیمه‌یزو غونډو، لکه د مسکو فارمټ له لارې، د همکاریو لاره خپله کړې او د مستقیمې نظامي مداخلې څخه یې ډډه کړې ده (Fazli & Habib, 2025).

د یادونې وړ ده چې له دغو دوه اړخیزو اړیکو سره لا هم یو شمېر ستر خنډونه د افغانستان او چین ترمنځ د ژورې همکارۍ مخه نیسي، چې تر ټولو لوی خنډ د اسلامي امارت د نړیوال مشروعیت نشتون دی، چې د رسمي تړونونو او پانګوالو باور کمزوری کوي. همدارنګه، افغانستان د چین، روسیې، ایران او پاکستان ترمنځ د سیمه‌یزو سیالیو په منځ کې را ګېر دی، چې د بهرنۍ پالیسۍ انعطاف ورته ستونزمنوي. د ناامنۍ ګواښونه، د

بهرنيو پروژو د امنيت په اړه اندېښنې او د سرحدي سيمو بې ثباتي د چين د پانګونې لپاره خطرونه زياتوي (Sharma, 2024). لنډه دا چې د افغانستان اسلامي امارت او چين ترمنځ راتلونکې اړيکې به هغه مهال پياوړې شي چې سياسي ثبات، اقتصادي پرمختګ او نړيوال مشروعيت ته لاره هواره شي. چين د زبر ځواک په حيث له اسلامي امارت سره فعاله اړيکه لري، خو د دغه ملګرتيا دوام او ژورتيا د شته خنډونو او ننګونو پر بريالي مديريت پورې اړه لري.

### ٦,۵. د هند او پاکستان د سيالۍ ترمنځ توازن ساتل

د سويلي اسيا د سرسختو رقيبانو هند او پاکستان سيالي د افغانستان اسلامي امارت له پاره يو ډېر پېچلی جيوپوليټيکي واقعيت دی، چې بايد د هند او پاکستان ترمنځ د اوږدمهاله ستراتېژيکو رقابتونو ترمنځ متوازن سياست غوره کړي. دغه دواړه اټومي قدرتونه په سيمه کې د پام وړ اقتصادي، سياسي او امنيتي نفوذ لري، دواړه غواړي چې په افغانستان کې خپل ستراتېژيک حضور وساتي (Naseer, 2024). د دواړو رقيبانو سيالۍ ته په کتو سره اسلامي امارت اړ دی چې د دقيقې محاسبې او په حقائقو ولاړې پاليسۍ له مخې حرکت وکړي، ترڅو د افغانستان خپلواکي وساتل شي، کورنی ثبات خوندي شي او له سيمه‌يزو فرصتونو څخه اعظمي ګټه واخيستل شي.

په تاريخي لحاظ افغانستان تل د هند او پاکستان د ستراتېژيکو رقابتونو ډګر پاتې شوی. پاکستان له جغرافيايي نږدېوالي ګټه اخيستې او تل يې د افغان سياسي بهيرونو پر جوړښت اغېز کړی، په داسې حال کې چې هند د رغنيزو مرستو، زيربنايي پانګونو او فرهنګي ډيپلوماسۍ له لارې هڅه کړې، ترڅو په افغانستان کې خپل نرم ځواک پراخ کړي (Mukherjee, 2024). دواړه لوري مختلفې اړيکې لري، چې اسلامي امارت ته دا پيغام ورکوي چې هر ډول يو اړخيز تمايل کولی شي سياسي او اقتصادي تاوانونه ولري. له همدې امله، اسلامي امارت بايد د سيمه‌يز توازن پاليسي خپله کړي. که څه هم افغانستان په لومړي ځل له جګړو څخه په امن شوی دی، د تېرې کابو نيمې پيړۍ جګړې پای ته

رسېدلې دي، خو بیا هم له امنیتي پلوه افغانستان ته سترې ننګونې متوجه دي. پاکستان چې تل یې د افغان حکومتونو سره مخالفت کړی دی او له هېڅ افغان حکومت سره د ښو اړیکو سابقه نه لري، تل یې هڅه کړې چې خپلې امنیتي ګټې خوندي کړي (Hanauer & Chalk, 2012). د اسلامي امارت له راتګ سره سم پاکستان د پخوانۍ پالیسۍ په تعقیب له افغانستان سره اړیکې ترېنګلې کړې دي، چې له ګاونډیانو سره شخړې او د وسلوالو ډلو په ملاتړ سره یې د باور فضا زیانمنه کړې ده.

بلخوا، هند چې له افغانستان سره شریکه پوله نه لري، د افغانستان امنیت ته ستر اهمیت ورکوي او هڅه کوي له سیمه‌یزو متحدینو سره د افغانستان ثبات ته کار وکړي. که څه هم د اسلامي امارت د لومړۍ واکمنۍ پرمهال هند له افغانستان سره واټن نیولی و (Hanauer & Chalk, 2012)، خو له ۲۰۲۱ را پدیخوا د اسلامي امارت له دوهم ځلي واکمنۍ سره هند نسبتا ښې اړیکې پالي (Khawrin, 2023). په همدې اساس، اسلامي امارت باید خپل امنیتي سیاست داسې عیار کړي چې د دواړو هېوادونو پر وړاندې بې‌طرفه او خپلواک پاتې شي. همدارنګه، د اسلامي امارت بهرنی سیاست چې تراوسه متوازن روان دی، باید نور هم پیاوړي او بې‌طرفه پاتې شي، ترڅو د هېڅ لوري ملاتړ و نه کړي او خپلو ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي.

د دې ترڅنګ، که اقتصادي اړخ ته وکتل شي، افغانستان د دواړو هېوادونو له پانګونو څخه ګټه اخیستلی شي. هند د سړکونو، روغتونونو او ښوونځیو په جوړونه کې پراخه پانګونه کړې او پاکستان د ترانزیت، سوداګرۍ او بندري لارو ته د لاسرسي له لارې هڅه کوي اقتصادي همکاري پیاوړې کړي (Hanauer & Chalk, 2012). اسلامي امارت باید دا پانګونې د ملي ودې، سیمه‌یز ثبات او اقتصادي پیوستون لپاره په پوره مهارت وکاروي. د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت د نړیوال مشروعیت نشتون یو ستر خنډ دی، چې د رسمي تړونونو او نړیوال مالي نظام ته د لاسرسي توان محدودوي.

لکه څنگه چې نړیوال نظم له یو قطبي حالت نه د څو قطبي حالت په لوري روان دی، چین، روسیه، هند او خلیجي هېوادونه هڅه کوي په سیمه کې ستراتیژیکې خلاوې ډکې کړي (Al-Zubaidi, 2023). دا حالت اسلامي امارت ته چانس ورکوي چې د یو بې‌طرفه، باثباته او هوښیار لوبغاړي په توگه ځان مطرح کړي. د هند او پاکستان ترمنځ متوازن دریځ به نه یوازې د افغانستان خپلواکي وساتي، بلکې دا به اسلامي امارت ته زمینه برابره کړي چې د څو قطبي نړۍ په نوي نظم کې خپل ځای ومومي.

لنډه دا چې اسلامي امارت باید داسې یوه مدبرانه او متوازنه بهرنۍ پالیسي غوره کړي، چې په هغې کې سیمه‌یز ثبات، اقتصادي وده او امنیتي همکاري بنسټیز ارزښتونه ولري. د هند او پاکستان ترمنځ د متوازنو او بې‌طرفه اړیکو پالل، د دې ستراتیژۍ اساسي شرط گڼل کېږي، ترڅو افغانستان وکولی شي له سیمه‌یز رقابت څخه ځان خوندي وساتي او خپلې ملي گټې په اغېزمن ډول تأمین کړي (Amini, 2024). د افغانستان راتلونکی به تر ډېره پر دې ولاړ وي چې اسلامي امارت څومره سیاسي بصیرت، ډیپلوماټیک مهارت او ستراتېژیک درک ولري، ترڅو له شته فرصتونو اغېزمنه استفاده وکړي او له احتمالي گواښونو او خطرونو څخه ځان وساتي.

### ۷,۵. د اسلامي امارت د بهرني سیاست ارزونه

د ۲۰۲۱ کال اگسټ کې د اسلامي امارت د بیا واکمنېدو راهیسې د افغانستان د بهرني سیاست جوړول له گڼو پېچلو ننگونو سره مخ دی. دا دوره د بدلون مهم پړاو گڼل کېږي، چې اسلامي امارت د هېواد د حقیقي حاکم په توگه هڅه کوي، ترڅو افغانستان ته په چټک بدلېدونکي سیمه‌یز او نړیوال نظم کې دریځ پیداکړي. د اسلامي امارت بهرنۍ تگلاره چې له یوې خوا د خپلواکۍ او اسلامي اصولو ارزښتونو باندې ولاړه ده، له بلې خوا د اقتصاد محوره سیاست، نړیوال مشروعیت او سیمه‌یز ثبات لاسته راوړنې لپاره هلې ځلې کوي. اسلامي امارت اړ دی چې له گاونډیو هېوادونو، لویو قدرتونو، سیمه‌یزو او نړیوالو سازمانونو سره خپلې اړیکې په دقت سره تنظیم کړي (Mirzayi, 2023).

د اسلامي امارت د بهرني سياست بنسټيز محرک د نړيوال مشروعيت لاسته راوړل دي. د لويو نړيوالو لوبغاړو له خوا د رسميت پېژندنې نشتوالي په نړيوالو ډيپلوماټيکو فورمونو کې د افغانستان لپاره اساسي خنډ ګڼل کېږي (Cahin, 2021). که څه هم ملګري ملتونه، متحده ايالات او اروپايي ټولنه د امارت رسميت پېژندنه د ښځو د حقونو، ټولګډونه حکومتدارۍ او بشري اصلاحاتو سره مشروطه کړې ده، خو اسلامي امارت ټينګار کوي چې د افغانستان اوسنی حاکم نظام د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ ولاړ دی، چې بهرني فشارونه د افغانستان کورنيو چارو کې څرګنده لاسوهنه ده. بلخوا، اسلامي امارت د نړيوال مشروعيت په خاطر له چين، روسيې، خليجي هېوادونو، مرکزي او سويلي آسيا له هېوادونو سره اړيکې پراخه کړې، ترڅو دا لړۍ نوره هم وغځوي. بايد وويل شي چې امنيتي اندېښنې د امارت د بهرني سياست يو مهم بعد تشکيلوي(Soltani, 2024) . سره له دې چې اسلامي امارت په افغانستان باندې پوره تسلط لري، هېڅ وسلوالې ډلې ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د نورو پر وړاندې وکاروي، خو بيا هم له روسيې، چين او ځينې سيمه‌يزو هېوادونو سره د احتمالي ګواښونو وېره شتون لري.

د افغانستان جيوپوليټيکي موقعيت او اقتصادي پټ ظرفيتونه د سيمې د سترو لوبغاړو پاملرنه جلب کړې ده. افغانستان د منځنۍ او سوېلي آسيا په څلور لارې کې پروت دی، چې طبيعي زېرمو ته يې چين او خليجي هېوادونه لېواله دي. چين افغانستان ته د خپلې يو کمربند، يوه لاره ستراتيژۍ د يو مهم ستراتيژيک شريک په سترګه ګوري (Fedayee, 2025). چين له امارت سره نسبتا ښې اړيکې ساتلي، خو د امنيتي اندېښنو له امله لا هم له احتياطه کار اخلي، ترڅو د خپلو پانګوالو او کارکوونکو پر وړاندې د احتمالي خطر مخه ونيسي، او د واخان دهلېز د ثبات او د ختيځ ترکستان د تأثراتو مخنيوی يقيني کړي.

روسيې هم له امارت سره خپل تعاملات د ستراتيژيکې ارزونې پر بنسټ تنظيم کړي دي. سره له دې چې مسکو تراوسه امارت په رسمي توګه نه دی پېژندلی، خو د امارت

استازي يې اقتصادي او سياسي کنفرانسونو ته بللي دي (Qooyash, 2025). روسيه هڅه کوي چې د مرکزي آسيا امنيتي فضا وساتي، خو هممهاله نه غواړي چې له لويديځ سره مستقيم تقابل ته لاړه شي. د دې لپاره يې له امارت سره تعامل محدود ساتلی، ترڅو خپل سيمه‌يز نفوذ وساتي.

د خليج همکارۍ شورا هېوادونو له امارت سره تعامل ته واقعي ليد غوره کړی. قطر، سعودي عربستان، عمان او متحده عربي اماراتو له اسلامي امارت سره ډيپلوماټيک تماسونه ساتلي او پوهېږي چې د سيمې ثبات له افغانستان سره تړلی دی (Soltani, 2024). قطر د امارت او لويديځ ترمنځ د منځګړي رول لوبولی او د امارت ستراتيژيک ملګری ګڼل کېږي. د خليجي هېوادونو له خوا د انرژۍ، زيربناوو او مرستو په برخو کې د پانګونې هڅې شوې، خو د اسلامي امارت د رسميت نشتون د پانګوالو د حقوقو د خونديتوب غير واضح وضعيت دوی لا هم په احتياط کې ساتلی دي (Fedayee, 2025).

د اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره په ټوليز ډول د اعتدال او تعادل پر بنسټ ولاړه ده. له يوې خوا، امارت هڅه کوي چې خپل لومړيتوبونه او اسلامي هويت وساتي او د لويديځ له سياسي او اقتصادي فشارونو څخه ځان وژغوري؛ خو له بلې خوا مکلف دی چې له نړيوالو واقعيتونو سره سم له سيمې او نړۍ سره تعامل ته داخل شي، اقتصادي فرصتونه ولټوي او نړيوال مشروعيت ترلاسه کړي (Mandaville, 2024). د نړيوال بانکي نظام نشتوالی، د افغانستان کنګل شوې شتمنۍ او د پراخې بېوزلۍ دوام اسلامي امارت دې ته اړ کړی، ترڅو له بديلو سرچينو خپل اقتصاد تمويل کړي او له سيمه‌يزو اقتصادي نوښتونو سره يو ځای شي. سيمه‌يز هېوادونه تر دې دمه د امارت د سياستونو ارزونه د يو منظم او نړيوال چوکاټ له مخې نه کوي، بلکې د خپلو ملي اهدافو، امنيتي اندېښنو او جيوپوليټيکي ګټو پر بنسټ تعامل کوي (Nuruzzaman, 2015). دغه پراخ او محتاط دريځونه اسلامي امارت ته دا پيغام ورکوي چې د مشروع تعامل لپاره بايد لا ډېر شفافيت او باور جوړونه باندې کار وشي.

لنډه دا چې د افغانستان د بهرني سیاست راتلونکی د اسلامي امارت په کورنۍ دندې پورې تړلي دی، چې خپل کورنی ثبات وساتي، ګاونډیو ته د امنیت ډاډ ورکړي او داسې یو انعطاف منونکی چوکاټ رامنځته کړي چې ملي یووالی خوندي او د اعتماد، همکارۍ او متقابل درناوي فضا تأمین کړي (Dodge, 2011). د نړیوال نظم څو قطبي بڼه اسلامي امارت ته دا تاریخي فرصت وربښي چې له نویو متحدینو سره اړیکې پراخې کړي او له بدیلو نړیوالو بلاکونو سره متوازن مشارکت ولري (Weinbaum, 2021). د یادونې وړ ده چې د دغو فرصتونو د سم مدیریت او استفادې لپاره اړینه ده چې د بهرني سیاست په جوړښت کې واقع‌بینانه انعطاف، پرمختللې ستراتیژي او د باور جوړونې یو دوامدار بهیر تعقیب شي.

**٦. پایله**

د افغانستان اسلامي امارت د نړۍ په اوسني بدلېدونکي نړیوال نظم کې د یو مهم او حساس پړاو سره مخ دی، چې د یو قطبي او دوه قطبي نړیوالو نظمونو څخه د څو قطبي نړیوال نظم په ترڅ کې دغه هېواد ته نوې ننګونې او ستراتیژیک فرصتونه رامنځته کوي. افغانستان چې په جیوپولیټیکي لحاظ په یو مهم موقعیت کې پروت دی، کولی شي له دغه پېچلي حالت څخه په خپل ملي حاکمیت او ملي ګټو کې د واک او اغېز زیاتونې لپاره ګټه پورته کړي. دا هغه وخت عملي کېږي چې اسلامي امارت د سیمه‌یزو او نړیوالو لویو لوبغاړو لکه چین، روسیه، هند، ایران، ترکیه او امریکا سره په متوازن ډول خپلې اړیکې مدیریت کړي. د دغو اړیکو سم مدیریت کولی شي افغانستان ته د سیاسي ثبات، اقتصادي ځواکمنتیا او نړیوال مشروعیت لاسته راوړنې زمینه برابره کړي.

په همدې اساس، د اسلامي امارت بهرنی سیاست په داسې اصولو ولاړ دی چې د ملي ارزښتونو او نړیوالو ډیپلوماټیکو اړتیاوو ترمنځ حساس انډول ساتي. نننۍ نړیواله ډیپلوماسي له یوې خوا د ملي حاکمیت د ساتنې غوښتنه کوي او له بلې خوا د متقابل

احترام، سوله‌یزې همکارۍ او متقابلو ګټو پر خوندیتوب ټینګار کوي. له همدې امله، د افغانستان اسلامي امارت داسې بهرنی سیاست خپل کړی چې د لویو قدرتونو له ټکر څخه ځان ساتي او په عین وخت کې خپل بنسټیز ارزښتونه او ملي حاکمیت خوندي ساتي. دا توازن افغانستان ته دا فرصت ورکوي چې له سیاسي او اقتصادي انزوا څخه ووځي او په سیمه‌یزو او نړیوالو چارو کې فعاله او اغېزمنه برخه واخلي.

که اسلامي امارت د څو قطبي نړیوال نظام فرصتونه په اغېزمنه توګه وکاروي، نو افغانستان کولی شي په راتلونکي نړیوال نظم کې خپل دریځ خوندي کړي. د یادونې وړ ده چې نړیوال سټیج باندې لوبېدل د څو اړخیز او انعطاف منونکي بهرني سیاست له لارې ممکن دي، چې ملي ګټې د نړیوالو واقعیتونو سره همغږې او متقابلې ګټې پراخې کړي. په دې توګه، اسلامي امارت نه یوازې اقتصادي او امنیتي لاسته راوړنې تضمینولی شي، بلکې د یو ځواکمن، خپلواک او باثباته دولت په توګه خپل نړیوال مقام هم لوړولی شي. د څو قطبي نړیوال نظم ننګونې که څه هم سترې دي، خو د افغانستان لپاره د ستراتیژیک او پایدار پرمختګ لوی فرصتونه برابروي چې یوازې د متوازن بهرني سیاست له لارې ترلاسه کېدی شي.

## سرچينې

1. Ababakr, A. (2022). Modern International Politics Towards the Dissipative-Bifurcating Order. *Türk Turizm Araştırmaları Dergisi*, https://doi.org/10.26677/tr1010.2022.1020.

2. Acharya, A., Estevadeordal, A., & Goodman, L. W. (2023). Multipolar or multiplex? Interaction capacity, global cooperation and world order. *International Affairs, 99*(6), 2339–2365.

3. Adler, E. (2013). Constructivism in international relations: Sources, contributions, and debates. *Handbook of international relations, 2*, 112-144.

4. Akhtar, I., & Manzanay, H. (2024). Strategic Interests and Geopolitical Considerations: Assessing the Importance of Afghanistan for the US Post-Withdrawal. *Journal of Arts, Humanities and Social Science, 1*(2), 1-9.

5. Akram, S., & Akbar, M. (2023). US withdrawal from afghanistan: emerging challenges and future prospects. *Global Foreign Policies Review, 6*, 97-111.

6. Al-Zubaidi, F. (2023). *The Gulf Navigates a Multipolar World*. Retrieved from Fikra Forum: https://www.washingtoninstitute.org/policy-analysis/gulf-navigates-multipolar-world

7. Amini, S. H. (2024, November 14). *India-Islamic Emirate Relations; Developments, Opportunities, and Challenges*. Retrieved from Afghan Voice Agency: https://www.avapress.com/en/note/300652/india-islamic-emirate-relations-developments-opportunities-_and-challenges

8. Analytica, O. (2024). Geopolitical competition will intensify in Afghanistan. *Emerald Expert Briefings*.

9. Aria, A., Ziaee, S., & Quraishi, Z. (2025). Exploring Afghanistan's Prospective Role in the Shanghai Cooperation Organization. *International Journal of Law and Politics Studies, 7*(1), 30–38.

10. Aybudak, U. (2022). Afghanistan modernization and emanullah khan era. *Akademik sosyal araştırmalar dergisi, 6*(21), 275-286.

11. Baird, R., Cassimatis, A. E., & Bantz, V. P. (2005). After 60 years: the United Nations and international legal order. *The University of Queensland Law Journal, 24*(2), 258-278.

12. Baral, J. (2013). The Afghan Game: Interests and Moves. *Strategic Analysis, 37*(6), 700–715.

13. Barnett, M. (2020). Social Constructivism. In J. Baylis, S. Smith, & P. Owens, *The Globalization of World Politics* (pp. 192-206). Oxford University Press.

14. Brennan, J., & Tomasi, J. (2012). Classical liberalism. *The Oxford handbook of political philosophy*, 115-132.

15. Bull, H. (1977). *The Anarchical Society: A Study of Order in World Politics.* Columbia University Press.

16. Bull, H. (1977). The Concept of Order in World Politics. In H. Bull, *The Anarchical Society: A Study of Order in World Politics* (pp. 3-21). London: Palgrave.

17. Bull, H. (2012). *The anarchical society: A study of order in world politics.* Bloomsbury Publishing.

18. Burrough, M. A. (2009). A historical case study of US strategy towards Afghanistan. *US Army War College*, 1-36.

19. Cahin, G. (2021). Afghanistan: vingt ans après. *Annuaire Français de Droit International, 67*(1), 175-209.

20. Clapton, W. (2014). The Hierarchical Society. In W. Clapton, *Risk and Hierarchy in International Society: Liberal Interventionism in the Post-Cold War Era* (pp. 11-25). London: Palgrave Macmillan.

21. Davydov, A. (2022). The US withdrawal from Afghanistan as a sign of a new era. *Vostok. Afro-aziatskie obshchestva: istoriia i sovremennost, 2*, 63-74.

22. Dobbins, J., Andrew, R., & Miller, L. E. (2022). Engage, Isolate, or Oppose. *Rand Cooperation*, 1-27.

23. Dodge, T. (2011). Chapter Three: Domestic Politics and State-Building. *Adelphi Series 51*, 69–96.

24. Elrod, R. B. (1976). The Concert of Europe: A Fresh Look at an International System. *World Politics , 28*(2), 159-174.

25. Engelmann, S. G. (2014). Neoliberalism. *The Encyclopedia of Political Thought*, 2552–2558.

26. Fazli, A., & Habib, K. A. (2025). The Political Relations between the Islamic Emirate of Afghanistan and China: Opportunities and Challenges. *Journal of Social and Political Sciences, 8*(1), 52-65.

27. Fedayee, M. J. (2024). Intervention or Invasion: Legal Perspectives on US and NATO in Afghanistan. *International Journal of Law Management and Humanities, 7*(4), 1796 - 1824. doi:https://doij.org/10.10000/IJLMH.118183

28. Fedayee, M. J. (2025). Afghanistan's Mining Sector: Opportunities and Challenges for Regional Cooperation. *Strategic Studies Journal, 64*(Winter), 109-150.

29. Filip, B. (2020). The Importance of Hayek and Friedman to the neo-liberal concept of freedom. In B. Filip, *The Rise of Neo-liberalism and the Decline of Freedom* (pp. 17-28). Palgrave Macmillan.

30. Friedman, A. (2025, March 20). *Taliban releases American prisoner held for two years, Rubio says*. Retrieved from Politico: https://www.politico.com/news/2025/03/20/taliban-american-prisoner-george-glezmann-00003505

31. Ganie, S. A. (2016). India's Interests in Afghanistan Since 9/11. *Devi Ahilya Vishwavidyalaya, 2*(12), 51-56.

32. Glaser, C. L. (1997). The security dilemma revisited. *World politics, 50*(1), 171-201.

33. Glaser, C. L. (2010). *Rational theory of international politics: The logic of competition and cooperation.* princeton university press.

34. Gross, L. (1948). The peace of Westphalia, 1648–1948. *American Journal of International Law, 42*(1), 20-41.

35. Hampson, F. (2012). 8 Afghanistan 2001–2010. In E. Wilmshurst, *International Law and the Classification of Conflicts* (pp. 242–279). Oxford University Press.

36. Hanauer, L., & Chalk, P. (2012). India's and Pakistan's Strategies. *Center For Asia Pacific Policy*, 1-72.

37. Hawkesworth, M. (2009). Neoliberalism and the Micropolitics of Domination in the United States. In L. Macdonald, & A. Ruckert, *Post-Neoliberalism in the Americas* (pp. 167-183). Palgrave Macmillan.

38. Heldt, E. C., & Fioretos, O. (2024). 35 The IMF and the Future of the Liberal International Order . In M. Hibben, & B. Momani, *Oxford Handbook of the International Monetary Fund* (pp. 725–740). Oxford Academic.

39. Holsti, K. J. (2009). Theorising the Causes of Order: Hedley Bull's The Anarchical Society. In C. Navari, *Theorising International Society* (pp. 125–147). London: Palgrave Macmillan.

40. Howe, B. (2006). Rationality and intervention in an anarchic society. *The Korean Journal of Defense Analysis, 18*(1), 161-185.

41. Hurrell, A. (2020). Hedley Bull and the Idea of Order in International Society. In C. Navari, *International Society* (pp. 31–44). Palgrave Pivot Cham.

42. Ikenberry, G. J. (2014). Power, Order, and Change in World Politics. In G. J. Ikenberry, *Introduction: power, order, and change in world politics* (pp. 1-16). Cambridge University Press. doi:https://doi.org/10.1017/CBO9781139680738.001

43. Ikenberry, G. J. (2016). 32 The Rise, Character, and Evolution of International Order. In O. Fioretos, T. G. Falleti, & A. Sheingate, *The Oxford Handbook of Historical Institutionalism* (pp. 538–552). Oxford University Press.

44. Ikenberry, G. J. (2019). *After victory: Institutions, strategic restraint, and the rebuilding of order after major wars.* Princeton University Press.

45. Jang, S., & Namkoong, Y.-H. (2023). America's Hegemony Under Challenge: New Cold War Arising from the Deepening Collusion between China and Russia and their Formation of an Influence Sphere. *World Regional Studies Journal, 41*(1), 1-53.

46. Jervis, R. (1978). Cooperation Under the Security Dilemma. *World Politics, 30*(2), 167-214.

47. Joseph, J. (2014). Realism and neorealism in international relations theory. *The Encyclopedia of political thought*, 3142-3151.

48. Kaplan, M. A. (1957). Balance of Power, Bipolarity and Other Models of International Systems. *The American Political Science Review, 51*(3), 684-695.

49. Karmazin, A. (2022). In Search of International Order: The English School Approach to the Analysis of International Politics. *Czech Journal of International Relations, 57*(3), 7-43.

50. Kausch, K. (2015). Competitive Multipolarity in the Middle East. *International Spectator*, 1-15.

51. Keohane, R. O. (1984). *After Hegemony: Cooperation and Discord in the World Political Economy.* Princeton University Press.

52. Keohane, R., & Nye, J. S. (2011). *Power and Interdependence.* Pearson.

53. Kervalishvili, I. (2022). The States as the Main Actors of the World Politics. In N. Chitadze, *World Politics and the Challenges for International Security* (pp. 1-23). IGI Global Scientific Publishing

54. Khawrin, M. K. (2023). A Blind Spot Of Islamic Emirate Of Afghanistan Into Relation With India: The Second Reign Since August 2021. *Austral: Brazilian Journal of Strategy & International Relations, 12*(23), 206-219.

55. Kulakova, N. N. (2023). National Interests as the Trajectory of State Development. *Humanities and Social Sciences, Bulletin of the Financial University, 13*(3), 27-31.

56. Kumar, R. (2022). Afghanistan: An Arena of Global Geopolitics. *Research Review International Journal of Multidisciplinary*, 101–105.

57. Lane, D. (2024). Neoliberalism: A Critique. In D. Lane, *Global Neoliberal Capitalism and the Alternatives: From Social Democracy to State Capitalisms* (pp. 41–56). Oxford Academic.

58. Laski, H. J. (2018). *The rise of European liberalism.* Routledge.

59. Lawler, P. A. (2024). 4. The English School Of International Relations. In P. A. Lawler, *International Relations Theories* (pp. 105-148). Oxford University Press.

60. Lawler, P. A. (2024). 8:Constructivism and International Relations. In P. A. Lawler, *International Relations Theories* (pp. 277-320). Oxford University Press.

61. Lee, Y. (2018). Economic Interdependence and Peace: a Case Comparison Between the US-China and US-Japan Trade Disputes. *East Asia, 35*, 215–232.

62. Lind, M. (2008). A Concert-Balance Strategy for a Multipolar World. *The US Army War College Quarterly: Parameters , 38*(3), 48-60.

63. Linklater, A., & Suganami, H. (2006). *The English School of International Relations.* Cambridge University Press.

64. Lobell, S. E. (2017). Structural Realism/Offensive and Defensive Realism. *Oxford Research Encyclopedia of International Studies*, 1-23.

65. Lomia, E. (2020). Political Realism in International Relations: Classical Realism, Neo-realism, and Neo-Classical Realism. *International Journal of Social, Political and Economic Research, 7*(3), 591-600.

66. Lynch, T. J. (2009). 4 Liberalism and neoliberalism. In I. Parmar, L. B. Miller, & M. Ledwidge, *New Directions in US Foreign Policy* (pp. 48-61). Routledge.

67. Majeedi, M. (2024). 3 Years On, Islamic Emirate's Internal, Foreign Policy Reviewed. *Afghanistan Peace Campaign*.

68. Makoveeva, Z. (2023). Navigating the Aftermath: US Policy in Afghanistan Following Troop Withdrawal. *MGIMO Review of International Relations, 16*(4), 56-71.

69. Mandaville, P. (2024). 7. Islam and International Relations in the Middle East: From Umma to Nation State. In L. Fawcett, *International Relations of the Middle East (6th edn)* (pp. 151-171). Oxford University Press.

70. Manish, & Kaushik, P. (2023). China's Interests in Afghanistan: An Assessment Post US Withdrawal. *China Report, 59*(1), 58-79.

71. Mazarr, M. J., Miranda, P., Andrew, R., & Stuth, C. A. (2016). *Understanding the current international order.* [Building a sustainable international order series] Rand Corporation.

72. Mearsheimer, J. J. (2014). *The Tragedy of Great Power Politics.* New York: W. W. Norton & Company.

73. Mearsheimer, J. J. (2019). Bound to fail: The rise and Fall of the Liberal International Order. *International security, 43*(4), 7-50.

74. Meijer, H., & Simón, L. (2021). Covert balancing: Great Powers, secondary states and US balancing strategies against China. *International Affairs (Oxford Academic), 97*(2), 463-481.

75. Mill, J. S. (1867). *On Liberty.* Longmans Green and Company.

76. Mingst, K. A., Karns, M. P., & Lyon, A. J. (2022). *The United Nations in the 21st century.* Routledge.

77. Mirzayi, Q. (2023). Afghanistan's Foreign Policy: The Second Period of Taliban Rule (2021-Up to Now). *Cognizance Journal, 3*(8), 645–659.

78. Mishra, A. (2024, January 5). *What To Expect From China's Belt And Road Initiative For Afghanistan In 2024*. Retrieved from Jagran English: https://english.jagran.com/opinion/what-to-expect-from-chinas-belt-and-road-initiative-for-afghanistan-in-2024-10125107

79. Moore, J. A. (2024). The United States and the Liberal International Order, 1945–2023. In Z. Cope, *The Palgrave Handbook of Contemporary Geopolitics* (pp. 183–201). Cham: Palgrave Macmillan.

80. Morgenthau, H. (1948). *Politics Among Nations: The struggle for power and peace.* Nova York: Alfred Kopf.

81. Mughal, P., & Suleman, S. (2021). Global Geopolitical Dynamics and Prospects for Afghanistan's Regional Connectivity. *National University of Sciences and Technology*, 16-34.

82. Mukherjee, D. (2024). Understanding India's Relation with Pakistan and Afghanistan: A Study of Contested Spaces and Strategies. In P. P. Basu, & T. Arshed, *75 Years of India's Foreign Policy* (pp. 283–311). Singapore: Palgrave Macmillan .

83. Muzaffar, M., Yaseen, Z., & Rahim, N. (2017). Changing dynamics of global politics: Transition from unipolar to multipolar world. *Liberal Arts and Social Sciences International Journal (LASSIJ), 1*(1), 49-61.

84. Naseer, S. (2024). Regional Power Balance and Peace Building: India and Pakistan. *Journal of Indian Studies, 10*(1), 121 – 140.

85. Nijs, L. (2016). Liberalism versus neo-neoliberalism. In L. Nijs, *Neoliberalism 2.0: Regulating and Financing Globalizing Markets: A Pigovian Approach for 21st Century Markets* (pp. 19-76). London: Palgrave Macmillan UK.

86. Nugroho, G. (2008). Constructivism and international relations theories. *Global & Strategis, 2*(1), 85-98.

87. Nuruzzaman, M. (2015). Qatar and the Arab Spring: Down the foreign policy slope. *Contemporary Arab Affairs, 8*(2), 226-238.

88. OSINTTeam, S. (2025, April 9). *Afghanistan New Geopolitical Game Among Russia, US, and China's Strategies*. Retrieved from Specialeurasia: https://www.specialeurasia.com/2025/04/09/afghanistan-us-russia-china/

89. Pant, H. V. (2010). India in Afghanistan: A Test Case for a Rising Power. *Contemporary South Asia, 18*(2), 133–53.

90. Pashakhanlou, A. H. (2018). The Past, Present and Future of Realism. *E-International Relations Publising*, 29-42.

91. Phelan, S., & Dawes, S. (2018). Liberalism and Neoliberalism. *Oxford Research Encyclopedia of Communication*.

92. Pietrzak, P. (2024). The Russia–Ukraine War and the Renaissance of IR Realism. *Forum Nauk Społecznych Wydawnictwo Uniwersytetu Warmińsko-Mazurskiego w Olsztynie*(2), 9-24.

93. Plyais, Y. A. (2023). Afghanistan: the taliban are back to control. *Humanities and Social Sciences, Bulletin of the Financial University , 12*(6), 88–96.

94. Qooyash, H. R. (2025, May 14). *Baradar Leads Islamic Emirate Delegation at Kazan Economic Forum*. Retrieved from Tolo News: https://tolonews.com/afghanistan-194299

95. Rahimi, H. (2023). Afghanistan. *Yearbook of Islamic and Middle Eastern Law, 22*(1), 127–138.

96. Rahman, S. N., Shah, D. M., Tomonobo, S., & Mirwais, A. (2023). "Afghanistan factor in regional energy security and trade: Existing and projected challenges and opportunities. *AIMS Energy, 11*(2), 213-238.

97. Rakove, R. (2023). Developing Afghanistan since 1950. *Oxford Research Encyclopedia of Asian History*.

98. RASC, N. (2025, April 30). *Kazan Forum Becomes a New Stage for Taliban's International Reintegration Following Removal from Russia's Terrorist Blacklist*. Retrieved from RASC News : https://rudabe.org/archives/26172

99. Regilme, S. S., & Parisot, J. (2018). *American hegemony and the rise of emerging powers: Cooperation or conflict.* Taylor & Francis.

100. Reus-Smit, C. (2013). The Liberal International Order Reconsidered. In O. K. R., *After Liberalism?* (pp. 167-186). Palgrave Macmillan, London: Palgrave Studies in International Relations Series.

101. Rubin, B. R. (2006). Afghanistan's Uncertain Transition From Turmoil to Normalcy . *Council On Foreign Relations*, 1-56.

102. Rutar, T. (2023). What is neoliberalism really? A global analysis of its real-world consequences for development, inequality, and democracy. *Social Science Information, 62*(3), 295-322.

103. Saar, J. (2024). Concept of Civilizations by Samuel Huntington and the International Order. *TRAMES, 28*(2), 103-118.

104. Schmidt, B. C. (2004). Realism as Tragedy. *Review of International Studies, 30*(3), 427-441.

105. Schmidt, D. R., & Williams, J. A. (2023). The Normativity of Global Ordering Practices. *International Studies Quarterly, 67*(2), 1-13.

106. Sharma, R. (2024). Comrades in arms? Decoding China's Taliban gamble. In A. Sengupta, & P. Singh, *China in India's Neighbourhood* (pp. 83-102). India: Routledge .

107. Shivamurthy, A. G. (2021, December 14). *Afghanistan and the New Global (Dis)Order: Great Game and Uncertain Neighbours*. Retrieved from Observer Reaserch Foundation: https://www.orfonline.org/research/afghanistan-and-the-new-global-dis-order-great-game-and-uncertain-neighbours

108. Siebert, H. (2008). The Concept of a World Economic Order. *Research Papers in Economics*, 1-20.

109. Slimia, A. (2023). The Struggle of the Great Powers between Maintaining Hegemony and Recreation of a New World Order from the Lens of the Balance of Power Theory. *Journal of Media & Management, 5*(5), 1-8.

110. Solhdoost, M. (2023). The Taliban and Their Machiavellian Moment. *Journal of Asian and African Studies, 58*(4), 532–548.

111. Soltani, M. B. (2024, December 31). *Islamic Emirate's Foreign Policy: Triumphs and Trials in 2024*. Retrieved from Tolo News: https://tolonews.com/afghanistan-192398

112. Sun, T. (2023). Main International Relations Theories. *Teesside University*, 7-65.

113. Sylvester, C. (2014). Neorealist Reductionisms. *Australian Journal of Political Science, 49*(3), 547-551.

114. Taliaferro, J. W. (2000). Security Seeking under Anarchy: Defensive Realism Revisited. *International Security, 25*(3), 128-161.

115. Taylor, A. (2013, Julu 2). *Afghanistan in the 1950s and '60s*. Retrieved from The Atlantic: https://www.theatlantic.com/photo/2013/07/afghanistan-in-the-1950s-and-60s/100544/

116. Underwood, E., & Paul, T. V. (2020). *Balance of Power.* Oxford University Press.

117. Volgy, T. J., Corbetta, R., Grant, K. A., G., R., & Baird. (2011). Major power status in international politics. In T. J. Volgy, R. Corbetta, K. A. Grant, R. G., & Baird, *Major powers and the quest for status in international politics: Global and regional perspectives* (pp. 1-26). New York: Palgrave Macmillan US.

118. Wafa, N., & Yar, F. G. (2024). Geopolitical Influence of Afghanistan's Neighbors on the Country's Domestic and Foreign Policies. *Devotion: Journal of Research and Community Service, 5*(12), 1524-1537.

119. Waltz, K. N. (1979). *Theory of International Politics.* McGraw-Hill.

120. Weinbaum, M. G. (2021). Afghanistan and the Great Powers in Regional Geopolitics, Economics and Security. In A. Farhadi, & A. J. Masys, *The Great Power Competition Volume 1* (pp. 413–430). Springer Cham.

121. Yawar, M. E. (2024). Afghanistan's Geopolitical Developments and Foreign Policy. *Law and Humanities Quarterly Reviews, 3*(1), 14-26.

122. Yousafzai, S. (2025, May 11). *Pak, China push regional shift with Afghanistan*. Retrieved from The Express Tribune: https://tribune.com.pk/story/2545182/pak-china-push-regional-shift-with-afghanistan

123. Yousuf, M. (2023). India-Afghanistan Relations in Changing Regional Geopolitics. *South Asia Research, 43*, 343–361.

124. Zakharov, A. (2023). The Moscow Format meeting and Russia's Afghanistan policy. *Observer Research Foundation (ORF)*.

125. Zhou, G. (2024). Rise of Global South and changes in contemporary international order. *China International Strategy Review, 6*, 58–77.